# د کان کیندنې تړون

**د افغانستان اسلامي امارت**

**او**

**د چینا افغانســــــتان ده یون لونګ زیرن د سایرو معادنو د استخراج او پروسس شرکت**

**ترمنځ**

**د تخــــــار ولایت د چاه آب ولسوالی د سمتي طلا پروژې په اړه**

نېټه: ۱۰-۰۶-۱۴۰۲ هـ.ش | ۱۶-۰۲-۱۴۴۵هـ.ق

# لیکلړ


جزئیات.... ........ 1

مقدمه........ 1

منل شوي اصطلاحات ........ 2

1 تعریفونه........ 2

2 د نافذه قوانینو ارجحیت؛ ظرفیت او اداره........ 8

لومړۍ برخه: د ترون موده او د جوازونو ورکول........ 8

3 د ترون موده........ ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.

د ترون ثبت او خپرول........ 8

4 د اکتشافي جواز ورکول ........ 9

د اکتشافي جواز د حسن اجراء لپاره ضمانت ........ 9

مقدم شرایط........ 9

د اکتشافي جواز ورکړه ........ 9

5 د استخراج د جواز ورکړه........ 10

د لومړیتوب حق........ 10

د استخراجي جواز لپاره د اجرا ضمانت........ 10

6 د جواز ساحه ........ 11

د اکتشاف جواز ........ 11

دویمه برخه: د پلانونو تسلیمول او منظوري ........ 12

7 عمومي پلانونه........ 12

وړاندیز شوي پلانونه ........ 12

منظور شوي ارين پلانونه ........ 12

منظور شويو پلانونو ته عامه لاسرسی........ 12

د داخلي امنیت پلان ........ 12

8 د پلانونو منظوري..... ........ 12

د منظوروونکي مرجع له خوا د تعدیلاتو غوښتنه ........ 13

9 د منظور شويو پلانونو تعدیلول.... ........ 13

د منظور شوي پلان تعدیل ........ 13

هغه تعدیلات چې منظوروونکي مقام یې غوښتنه کوي ........ 14

10 د اکتشاف جواز کې ژمنه شوي حقوق ........ 14

مجاز فعالیتونه ........ 14

د نمونو راټولولو د مالکیت حق ........ 14

11 د استخراج په جواز کې ژمنه شوي حقوق... ........ 14

مجاز فعالیتونه ........ 14

د منرالونو د مالکیت حق........ 14

څلورمه برخه: د جواز شرطونه ........ 15



Islamic Emirate of Afghanistan

12 د اکتشافي جواز شرطونه .................... 15
شرطونه................................ 15
د اکتشاف د منظور شوي پروگرام تعدیل.................... 15
13 د اکتشافي جواز شرطونه .................... 15
شرطونه:,,,,................................ 15
پنخمه برخه: مالي موضوعات .................... 15
14 د خمکی د سطحي کرایه.................... 15
15 فیسونه.................... 16
16 حق الامتیاز (رویالتي).................... 16
د حق الامتیاز مکلفیتونه .................... 16
د خپلواک کارپوه لګښتونه .................... 16
17 مالیات.................... 17
مالیات په عمومي دول.................... 17
د مالیاتي فورمونو ترتیب او تسلیمول.................... 17
18 گمرکي محصولات.................... 18
19 امارت ته تادیات.................... 18
د تادیاتو بڼه.................... 18
کسر.................... 18
20 د بهرني پولي واحد (کرنسي) تادیه او موجودیت .................... 19
بانکي حسابونه .................... 19
د بهرنیو اسعارو تبادله .................... 19
واردات او د پیسو حواله .................... 19
21 مالي راپور ورکونه او محاسبه.................... 19
مالي راپور ورکونه.................... 19
22 خانگري شرایط .................... 20
23 د منرالي فعالیتونو عمومي کرندود.................... 20
25 بیمه (تکافل).................... 20
26 چاپېریال ساتنه .................... 21
عمومي مکلفیتونه.................... 21
27 کارگران.... .................... 21
28 روغتیا او خوندیتوب... .................... 21
عمومي مکلفیتونه.................... 21
د روغتیا او خوندیتوب پلان رعایت.................... 21
29 داخلي امنیت .................... 21
30 د سیمه ییزو کتي او د تولنی د پراختیا پلان.... .................... 24

| | | |
|---|---|---|
| 31 | عامه کارونه | 24 |
| 32 | د زېربنا جوړول | 24 |
| | عمومي مکلفیتونه | 24 |
| 33 | لرغوني او فرهنګي آثار | 25 |
| | عمومي مکلفیتونه | 25 |
| | د وزارت له لوري رد یا منظوري | 25 |
| 34 | د محصول خرڅلاو او صادرات | 26 |
| | بازارموندنه، خرڅلاو او صادرات په عمومي دول | 26 |
| | د محصولاتو پلور | 26 |
| 35 | راپور ورکونه | 27 |
| 36 | د اسنادو ساتل | 27 |
| 37 | تفتیش | 28 |
| | اتمه برخه: اقرار او ضمانتونه | 29 |
| 38 | د ترون لرونکي اقرار او ضمانتونه | 29 |
| 39 | د امارت اقراراو تضمینونه | 31 |
| | نهمه برخه: مالي داد، متابعت او اجراآت | 32 |
| 40 | له لاربنوونو څخه متابعت | 32 |
| 41 | د اجرا ضمانتونه | 32 |
| | د اجراء ضمانت شرایط | 32 |
| | د حسن اجرا ضمانت په اړه پریکړه | 33 |
| | د اجرا ضمانت بېرته سپارل | 33 |
| 42 | د چاپېریال ساتنې ضمانتونه | 33 |
| | د چاپېریال ساتنې تضمین شرایط | 33 |
| | د چاپېریال پر تضمین بیاکتنه | 33 |
| | د چاپېریال ساتنې د تضمین په اړه اجراآت | 33 |
| | د چاپېریال ساتنې تضمین بېرته سپارل | 34 |
| 43 | غرامت | 34 |
| | د ترون لرونکي غرامت | 34 |
| | د امارت غرامت | 34 |
| | د غرامتونو ګټه | 34 |
| 44 | د مسئولیت حدود | 34 |
| | تقصیر او فسخ | 34 |
| | د تقصیر موارد | 34 |
| | د ترون فسخه کول | 35 |
| 45 | د ترون د فسخې آثار | 36 |
| | د جوازونو لغوه کول | 36 |


Islamic Emirate of Afghanistan
C.A.D

د تړون د فسخې نور آثار ........ 36

46 د جواز د مودې د پوره کېدو، انصراف یا لغوه کېدو آثار... ........ 36

د منرالي فعالیتونو پای ته رسول........ 36

له ساحې څخه د استازو ایستل........ 36

د وسایلو او زېربنا لېږدول........ 37

د نیمګړو پاتې شویو مکلفیتونو سر ته رسول ........ 37

د جواز د مودې تر پای ته رسېدو وروسته ساحې ته لاسرسی........ 37

د اجراء د تضمین او د چاپېریال ساتنې تضمین مستردول........ 38

47 ګډې حل لارې........ 38

لسمه برخه: فرعي قراردادونه او معاملې ........ 38

48 فرعي قرارداد........ 39

49 د مدیریت بدلون. . . . . . . ........ 39

د ارتیا ور منظوري........ 39

د هغه جواز خندول چې منظوری ته په تمه دی ........ 39

50 د حقونو او مکلفیتونو پر لیږد محدودیتونه. . . . ........ 39

د امارت له خوا لیږد........ 39

د تړون لرونکي لهخوا لیږد........ 40

د تضمین ګټه ........ 40

یوولسمه برخه: عمومي حکمونه ........ 40

51 د امارت له خوا داد. . . . . ........ 40

منظوری. . . . ........ 40

د امارت لهخوا د خندونو نه جوړول او نه تبعیض ........ 40

بهرني کارګر........ 41

د تړون لرونکي د شتمنیو مصادره ........ 41

د تړون لرونکي په ګټه د ځمکې استملاک........ 41

52 ثبات ........ 42

استثناءآت. . . . . . ........ 42

53 غیر مترقبه پېښې (فورس ماژور). ........ 42

غیر مترقبه پېښی........ 43

د غیر مترقبه پېښو اغېزې........ 44

د غیر مترقبه حالاتو په اړه خبرتیا ........ 44

د اغېزو راکمولو مکلفیت ........ 44

هغه پېښې چې له حقوقي لارو د حل و فصل ور نه دي ........ 44

لګښت. . . . . . ........ 44

د غیرمترقبه پېښو پای ........ 44

د غیر مترقبه پېښو د دوام له امله د تړون فسخ کول........ 44

54 د اختلافونو حل........................................ 45

د افغانستان د سوداګریزو شخړو د حل مرکز (ACDR) ........................................ 45

55 محرمانه معلومات........................................ 47

56 خبرتیاوې... ........................................ 47

د خبرتیا استول........................................ 47

د اریکی د جزئیاتو بدلون ........................................ 47

57 متفرقه حکمونه........................................ 48

معافیتونه........................................ 49

د خسارې د جبران تداوم ........................................ 51

لومړی جدول: اکتشافي جواز........................................ 51

لومړی برخه: مقدم شرطونه ........................................ 51

دویمه برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو نافذه قانون)........................................ 52

دریمه برخه: د جواز ساحه ........................................ 53

دویم جدول: استخراجي جواز ........................................ 53

لومړی برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو نافذه قانون)........................................ 54

دریم جدول: زېربنا او عامه کارونه ........................................ 54

لومړی برخه: زېربنا ........................................ 54

دویمه برخه: عامه کارونه ........................................ 55

څلورم جدول: خانګړي شرایط ........................................ 55

اجراء: ......... ........................................ 58

لومړی شمېره ضمیمه: د استخراج منظور شوی پروګرام ........................................


....

جزئیات

نېټه: ( )

لوري:

**تړون ورکوونکی:**

نوم: د افغانستان اسلامي امارت، د کانونو او پټرولیم وزارت

پته: [د مکروریان څلورلاری کابل]

بریښنالیک: [lsmmd@momp.gov.af]

**تړون لرونکی:**

نوم: [د چینا افغانســـــتان ده یون لونګ زیرن د سایرو معادنو د استخراج او پروسس شرکت]

پته: [دوولسمه سړک، څلورمه ناحیه، تایمني کابل، افغانستان]

بریښنالیک: [shuoa.maisam@gmail.com]

مقدمه

الف د کانونو او پټرولیم وزارت لهخوا د داوطلبی د پروسي له ترسره کولو وروسته، تړون لرونکي ته د دغه تړون ورکړه په لاندې ډول ترسره شوې ده:

(لومړی) دغه پروژه د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی ( ) ګڼې او ( ) نیټې حکم له مخې منظور شوې ده.

(دوهم) دغه پروژه د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کمیسیون د ( ) هجري لمریز کال د ( ) میاشتې ( ) نیټې پرېکړې په اساس تصویب شوې ده.

ب دا تړون د کان کیندنې تړون لرونکي ته د اکتشاف د جواز او د کټې اخیستنې جواز د لومړیتوب حق ورکوي.

ج دغه تړون د دواړه لوریو د لاسلیک سره سم د ثبت او نشر څخه وروسته د اجرا پړاو ته داخلیږي او وزارت یې د امارت د استازي په توګه مدیریت کوي.

د دا تړون د عامه کټو په موخه لاسلیک شوی او وزارت یې د څېړېدو حق لري.

## منل شوي اصطلاحات

**1 تعریفونه**

1.1 په دغه تړون کې کارول شوي اصطلاحات لاندي معناوي لري:

**د محاسبي معیارونه:** د نړیوال مالي راپور ورکوني سیستم (IFRS) معیارونه او اصول.

**عمل:** د یوې کړنې، شخړې، دعوا، غوښتنې، څېړنې، پوښتنې، قانوني تعقیب، حقوقي دعوا، منځګړیتوب یا د شخړي حل.

**زیانمن لوری:** د دې اصطلاح معنی په 53.3 فقره کې شرح شوي ده؛

**افغانی:** د افغانستان رسمي پولي واحد.

**تصدي:** د عامه ساتني تصدي یا بله بدیله اداره چې د کورنیو چارو وزارت له خوا تاسیس شوي او په افغانستان کې د پلي کېدونکو پروژو لپاره داخلي امنیت تامینوي.

**نافذه قوانین:** په اړونده برخه کې د تصویب شوو قوانینو په معنا دی، او د شک د مخنیوي لپاره لاندي قوانین یکي شاملیږي:

د کانونو قانون، مقررات، لارښووني، د استملاک قانون، د ګمرکاتو قانون، د چاپیریال ساتني قانون، پر عایداتو د مالیاتو قانون، د کار قانون، د خصوصي پانګوني قانون؛ او په دې برخه کې د تطبیق وړ نور نافذه تقنیني سندونه.

**منظوري:** د نافذه قوانینو له حکم سره سم له یوه با صلاحیته مقام څخه د تائید، رضایت، صلاحیت، ثبت، تصدیق ، جواز ، یا معافیت ترلاسه کول.

**د منظوری باصلاحیته مرجع:**

(الف) د چاپیریال ساتني د مدیریت د پلان په برخه کې، د چاپیریال ساتني ملي اداره (NEPA)

(ب) د تولنې د پراختیا د پلان، د روغتیا او خوندیتوب پلان او یا د سیمه ایزو ګټو د پلان په برخه کې وزارت.

**د تولني د پراختیا منظور شوی پلان:** هغه پلان چې د تولني د پراختیا په هدف د تړون لرونکي لخوا وزارت ته وړاندې شوی او د وزارت لخوا منظور شوی دی.

**منظور شوي سندونه:** د تولني د پراختیا، کورني امنیت، چاپیریال ساتني د مدیریت، اکتشاف، روغتیا او خوندیتوب، د سیمه ایزو ګټو منظور شوي پلانونه او یا د کان کیندني منظور شوی پروپوزل؛

**د داخلي امنیت منظور شوی پلان:** د داخلی امنیت پلان چې د وزارت له خوا منظور شوی وي.

**د چاپیریال ساتني د مدیریت منظور شوی پلان:** د چاپیریال ساتني د مدیریت پلان چې د چاپیریال ساتني ملي اداري له خوا منظور شوی وي.

**د اکتشاف منظور شوی پروګرام:** د اکتشاف هغه پلان چې د دې تړون په ۱ ضمیمه کې تشریح شوی.

**د روغتیا او خوندیتوب منظور شوی پلان:** د روغتیا او خوندیتوب پلان چې د وزارت له خوا منظور شوی وي.

**د سیمه ییزو ګټو منظور شوی پلان:** د سیمه ییزو ګټو پلان چې د وزارت له خوا منظور شوی وي.

**د کان کیندني منظور شوی پروپوزل:** د کان کیندني هغه پروپوزل چې د اقتصادي کمېسیون له خوا منظور شوی وي.

**منظور شوی پلان:**

(الف) د اکتشافي جواز په صورت کې، د چاپیریال ساتني د مدیریت منظور شوی پلان، د روغتیا او خوندیتوب منظور شوی پلان یا د محلي ګټي منظور شوی پلان؛ یا

(ب) د استخراجي جواز په صورت کې، د تولنیزې پراختیا منظور شوی پلان، د چاپیریال ساتني د مدیریت منظور شوی پلان، د روغتیا او خوندیتوب منظور شوی پلان یا د محلي ګټي منظور شوی پلان .

**با صلاحیته مرجع:** یعني هر امارتي، نیمه امارتي، اداري، مالي یا قضایي ارګان، څانګه، کمیسیون، مقام، محکمه، اداره یا بل هر هغه بنسټ، او د شک د مخنیوي لپاره، خپله وزارت هم په کې شاملیږي.

**د داوطلبی اسناد:** ټول هغه اسناد چې د ترون لرونکي لخوا د داوطلبی د پروسې په جریان کې وزارت ته سپارل شوي، چې لاندې اسناد هم پکې شامل دي:

(الف) د اهلیت د ابتدایي ارزونې پوښتنپانه (PQQ)؛

(ب) د داوطلبی پروپوزل (چې د شک د مخنیوي لپاره، د اهلیت او موافقت اظهارلیک او د ورتیا اظهارلیک هم پکې شاملیږي)؛

الف د ترون لرونکي لاندې پیشنهادي پلانونه:

(1) د اکتشاف پروګرام؛

(2) د چاپیریال ساتنې د مدیریت پلان؛

(3) د سیمه ییزو ګټو پلان؛

(4) د روغتیا او خوندیتوب پلان؛

(5) د داخلي امنیت پلان؛

(6) استخراجي پلان؛

(7) د تولنیزو خدمتونو پلان؛ او

(8) د پروسس پلان.

(ب) د داوطلبی پروسې په جریان کې د ترون لرونکي لخوا چمتو شوي نور معلومات (مهمه نه ده چې دغه ډول معلومات وزارت غوښتي وي یا نه)؛

**د داوطلبی پروسه:** هغه پروسه ده چې د دې ترون د مقدمې په سر کې ورته اشاره شوې ده.

**مرکزي بانک:** د افغانستان بانک.

**ترون:** د کان کیندنې همدا ترون.

**ترون لرونکی:** [د چینا افغانســــتان ده یون لونګ زیرن د سایرو معادنو د استخراج او پروسس شرکت]؛

**د ترون لرونکي تضمینونه:** د دغه ترون د ۳۷,۱ ماده کې ذکر شوي نیابت او تضمینونه.

**د ترون موده:** هغه موده چې په ۳,۲ فقره کې شرحه شوې ده.

**مقدم شرایط:** هغه شرطونه چې د دې ترون د (۱) جدول په لومړۍ برخه کې شرحه شوي دي.

**محرم معلومات:** لاندې معلومات چې د افشا کوونکي اړخ یا د هغه د استازو له لوري ترلاسه کووونکي یا د هغه استازو ته، که په هره بڼه وي، افشا کړي:

(أ) هغه معلومات چې د نافذه قوانینو له مخې محرم دي.

(ب) شخصي موضوعات، د کارکوونکو روغتیايي ریکارډونه، یا د کارکوونکو او نورو کسانو سندونه او معلومات، او نور موضوعات چې د اشخاصو محرمیت پکې شامل وي.

(ت) د تجهیزاتو، د پروسې نوښتونو، امنیتي یا سوداګریزو رازونو په اړه محرم تخنیکي یا ملکیتي معلومات.

(ث) د حقوقي سلاکارانو د سلا مشورې په ګډون محرم حقوقي موضوعات؛

(ج) د کان کیندنې اړوند معلومات؛

(ح) د ترون لرونکي د معنوي مالکیت حق چې په پروژه پورې تړاو لري؛ یا

خو هغه معلومات نه پکې شاملېږي چې:

(خ) لاسته راوړونکی لوری ار وي چې د افغانستان نافذه قوانینو سره سم يي خپاره يا په عامه توګه وراندي کړي؛

(د) چې د عامه شتمنيو برخه وي او يا يي يوه برخه وبلل شي، په دي شرط چې د دغه تړون د نقض کېدو او يا د افشا کوونکي لوري او يا د هغوی د استازو په امانت کي د خیانت لامل نه‌شي.

(ذ) چې ترلاسه کوونکی لوری ثابته کړي چې د معلوماتو افشا کولو پر مهال افشا کوونکی لوری خبر و (خو دا چې یاد معلومات د افشا کوونکي لوري يا د هغوی د استازو د امانت ساتلو د اصل د نقض له امله نه وي)؛ او يا دا

(ر) چې ترلاسه کوونکي لوري دا معلومات له افشا کوونکي لوري پرته له بلې سرچینې ترلاسه کړي وي او یاده سرچینه د معلوماتو د افشا صلاحیت ولري؛

**د ګمرکاتو نافذه قوانین:** د افغانستان اسلامي امارت د مالیي وزارت د ګمرکاتو قوانین.

**افشاء کوونکی لوری:** هغه لوری چې په مستقیمه توګه یا د خپلو استازو له لارې محرم معلومات افشا کوي.

**امریکايي ډالر (USD):** د امریکا د متحده ایالتونو رسمي پولي واحد.

**د اجرا نېټه:** هغه نېټه په کومه چې د کان کیندنې تړون د ټولو لورو له خوا لاسلیک، ثبت او خپرېږي.

**د پای نېټه:** د مقدمو شرایطو سره په تړاو هغه نېټه چې د لومړي جدول په لومړی برخه کې د ذکر شوو مقدمو شرایطو برعکس نېټه بیانوي.

**د تقصیر موارد:** هغه موارد چې په ۴۴ ماده کې بیان شوي دي.

**د تبادلې نرخ:** هغه نرخ چې په تاکلې نېټه د راکړې ورکړې لپاره ټاکل شوی وي.

**د ګټې اخیستنې جواز:** هغه جواز چې د کانونو نافذه قانون له حکم سره سم تړون لرونکي ته ورکول کېږي چې د جواز په ساحه کې د فعالیت اجازه ورکوي.

**د اکتشاف جواز:** هغه جواز چې د کانونونافذه قانون حکم سره سم د کان کیندنې تړون لرونکي ته ورکول کېږي چې د جواز په ساحه کې د [طلا]د اکتشاف اجازه ورکوي.

**د استملاک مرجع:** د دې اصطلاح معنا د استملاک په نافذه قانون کې شرح شوې ده.

**مالي کال:** دوولس میاشتنی دوره چې د هر هجري شمسي کال د حمل میاشتې لومړی نېټه پیل او د حوت میاشتې په ۲۹ نېټه پای ته رسېږي.

**غیر مترقبه پېښې (فورس ماژور):** معنی یې په ۵۳,۱ ماده کې بیان شوې ده.

**د مالي راپور ورکونې نړیوال معیارونه** چې د محاسبې د نړیوالو معیارونو د بورډ له خوا خپرېږي.

**پر عایداتو د مالیاتو قانون:** پر عایداتو د مالیاتو نافذه قانون

**خپلواک کارپوه:** معنی یې د کانونو نافذه مقررې په حکمونو کې تشریح شوې ده.

**غیر مستقیم زیان:** هر هغه غیر مستقیم زیان یا خساره او یا هم د ځینو فعالیتونو په نتیجه کې رامنځته شوی زیان یا خساره که په هره بڼه پېښ شوی وي او لاندې ټکي په کې شاملېږي:

أ) د استفادې (پیشبیني شوې استفادې)، تولید، ګټې، عاید، کاروبار یا سپما زیان

ب) هغه زیان چې د سوداګریزې یا کاروباري اختلال له امله رامنځته شوی،

ولو که غیر مستقیم زیان د وړاندوېیني وړ وي یا نه وي.

**فکري مالکیت:** د اختراع، د کاروني وړ موډل، د نشر حق (د راتلونکي نشر د حق په ګډون)، سوداګریز نښان، لوګو او د ډیزاین نښو، خدماتي نښو، سوداګریزو نومونو، براند نومونو، ډیزاینونو، سوداګریزو رازونو، د ډومېن نومونو، د نړیوالي شبکي (world wide web) سره د نورو تړلو نومونو، انټرنېټي پتي، د حقونو په ګډون د فکري ماالکیت د حقونو په معنا دی چي د انفاذ له نېټي مخکي یا وروسته رامنځته کېږي او ټول غوښتنلیکونه او حقونه په کي شاملېږي چي د دې ډول فکري مالکیت د ثبتولو لپاره کارول کېږي.

**د افلاس حالات:** د تړون د یوه لوري په اړه له لاندي مواردو څخه د یو یا څو مواردو رامنځته کېدو ته وایي:

ج) دا د هر نافذه قانون د اهدافو لپاره دی ؛

(لومړی) چي پر وخت خپل پوروونه ادا نه شي کړای ؛ یا

(دویم) له افلاس سره مخ وي؛

د) ټول پوروونه یا د پورونو یوه برخه تادیه توقف، تعلیق یا د هغه د توقف کولو ګواښ وکړي؛

ه) د پور ورکوونکو د غونډي رابلل او دایرول؛

و) هر هغه عمل ترسره کول چي د افلاس سبب شي ؛

ز) کله چي د ملکیت د مصادري غوښتنلیک وړاندي او یا یې په اړه حکم صادر شي ؛

ح) د یوې قانوني وجیبي په سرته رسولو کي پاتي راشي ؛

ط) د یو داسي ګام اخیستل چي په یوه ناسم وضعیت منتج شي ؛

ي) د یو داسي ګام اخیستل چي تړلاسه کوونکی، اخیستونکی او مدیر، رییس، د تصفیې مدیر یا موقتي د تصفیې مدیر د همدغه یا یې کومي بلې شتمنی لپاره ګومارل شوی وي، ورته کومه ګمارنه ترسره شي؛

ك) کله چي د ټولو یا یو شمېر پور ورکوونکو د ګټو لپاره هر ډول تړون، جوړښت یا ترتیب ته داخل شي؛ یا

ل) نور هغه اعمال چي د قانون یا د صلاحیت په یوه محدوده کي پیښېږي چي د پورته توضیحاتو له یو مورد سره ورته وي یا ورته اغېزې ولري؛

**د کار قانون:** د کار نافذه قانون څخه عبارت دی؛

**جواز:** د کان د اکتشاف یا د کان د استخراج جواز (هر یو چي د استفادې وړ وي)

**د جواز ساحه په لاندي معنا ده:**

(الف) د اکتشافي جواز په اړه، هغه خمکه چي وخت په وخت د اکتشافي جواز موضوع جوړوي؛ او

(ب) د استخراج د جواز په اړه، هغه خمکه چي وخت په وخت د استخراج د جواز موضوع وي؛

**د جواز د پای نېټه:** د جواز په اړه له لاندي مواردو څخه هر هغه څه چي لومړی رامنځته شي:

أ) د جواز د وخت د ختمېدو نېټه؛

ب) له جواز څخه (یا یې یوې برخي څخه) د انصراف یا لاس اخیستو یا پرېښودو نېټه؛ او

ج) د کانونو قانون له مخي د جواز د لغوې نېټه؛

**زیان:** ټول زیانونه، خسارات، مصارف او لګښتونه؛

**د کانونو نافذه قانون :** د کانونو قانون چي کېدای شي وخت په وخت تعدیل شي؛

**د کان کیندني معلومات:** ټول هغه معلومات او اطلاعات چي په جوازونو پوري یا د جواز ساحه کي په کوم منرال پوري اړه ولري.

**وزارت:** د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت په معنا دی.

**بل لوری:** په لاندي معنا دی:

أ) که چېرې د کان کیندني تړون لړونکی زیانمن شوی لوری وي، نو امارت بل/مقابل لوری بلل کېږي؛ یا

ب) که چېرې امارت زیانمن شوی لوری وي، د کان کیندني تړون لړونکی بل لوری بلل کېږي؛

**د خصوصي پانګوني قانون:** د خصوصي پانګوني نافذه قانون

**پروژه:** په لوی مقیاس د کان کیندني پروژه ده چې له دې تړون سره سم د کان کیندني د تړون لړونکي له خوا د جواز په ساحه کې پلي کېږي.

**پیشنهادي شوی پلان:** د تړون لړونکي له لاندي پیشنهادي پلانونو څخه عبارت دی:

أ) د چاپېریال ساتني د مدیریت پلان؛

ب) د محلي مفاد پلان؛

ج) د روغتیا او خوندیتوب پلان؛

د) د ټولنیزي پراختیا پلان،

، او د شک د مخنیوي لپاره، د ۹ مې مادې پر اساس د یوه منظور شوي پلان هر ډول پیشنهادي بدیل یې شاملېږي؛

**عامه کارونه:** هغه کارونه چې د دې تړون د دریم جدول په دوهمه برخه کې ذکر شوي دي؛

**د کان کېندنې د صنعت واجد شرایط مالیه ورکوونکی:** نسبت یې هغې اصطلاح ته کېږي چې پر عایداتو د مالیاتو په قانون کې تشریح شوې ده؛

**ترلاسه کوونکی لوری:** هغه لوری دی چې محرم معلومات (په مستقیم ډول او یا هم د خپلو استازو په وسیله تر لاسه کوي)؛

**نافذه مقرره:** د کانونو نافذه مقرره چې کېدای شي وخت پر وخت د تعدیل وړ وي.

**اړوند لوری:** د یو حقوقي شخصیت په اړه هر هغه شخص ته ویل کېږي، چې د یوه یا څو منځګړو په وسیله عمده مالک وي، یا په دې حقوقي اداره کې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د مشارکت عمده برخه لري؛

**د یوه لوري استازی په لاندي معنا دی:**

أ) له هغه لوري سره اړوند یو لوری؛ او

ب) آمر، رئیس، کارکوونکی، استازی، مفتش، مشاور، شریک، ګډ پانګوال، مشاور یا د هغه لوري قراردادي یا د هغه لوري اړوند لوری؛

**اړینه بیمه (تکافل):** د عامه مسؤلیت بیمه (تکافل) او هر هغه بیمه (تکافل) چې د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو لخوا اړینه بلل شوي وي؛

**د بیا مېشتېدنې کمېټه:** هغه کمېټه ده چې د استملاک په برخه کې د استملاک نافذه قانون سره سم جوړېږي؛

**د بیا مېشتېدنې د پروژې د تطبیق پلان:** معنا یې د بیا میشتیدنې د کمیټې لخوا د استملاک نافذه قانون سره سم د هغو اشخاصو د بیا میشتیدنې لپاره چمتو شوی پلان دی چې ځمکه یې په اجباري توګه استملاک شوي وي.

**ځانګړي شرایط:** معنا هغه خاص شرایط چې په څلورم جدول کې ذکر شوي دي؛

**د امارت تضمینونه:** هغه تضمینونه او ژمنې چې په ۳۸,۱ ماده کې روښانه شوي دي؛

**د مالیاتو نافذه قوانین:** د مالیاتو په اړه ټول نافذه قوانین (د ګمرکاتو نافذه قانون او پر عاید د مالیاتو نافذه قانون په ګډون)؛

**دریم لوری:** د کان کېندنې د قراردادي او یا هم د هغه اړوند لوري څخه پرته بل لوری؛

تضمین: د کان کیندنې د قراردادي تضمین او یا هم د امارت تضمین ؛ او

**تفسیر**

1.2 د دغه تړون په تفسیر کې لاندې موارد شاملیږي، مګر دا چې محتویات یې بل ډول ایجاب وکړي:

1.2.1 عنوانونه یوازې د آسانتیا په خاطر ځای پر ځای کیږي او د دغه تړون د محتویاتو پر تشریح کوم اغیز نه لري؛

1.2.2 د شخص په اصطلاح کې هر فرد، شرکت، کمپنی، موسسه، حکومت، امارت یا د امارت اداره یا یوه ټولنه، ارونده مرجع، ګډه پانګونه، د مشارکت کنسرشیوم (ولو که بیل حقوقي شخصیتونه ولري او یا یې و نه لري) شاملیږي؛

1.2.3 که یوې کلیمې یا عبارت ته یوه مشخصه معنی ورکړل شوې وي، د دغه کلیمې یا عبارت راتلل د بحث په بله برخه کې، یا یې بله ګرامري بڼه ورته معنا لري؛

1.2.4 یوه کلیمه چې مفرد ښیي، د هغه کلیمې جمع هم ښیي او یوه کلیمه چې جمع ښیي، د همدغې کلیمې مفرد هم ښیي؛

1.2.5 هر جنسیت ته اشاره د هغه بل جنسیت هم ښیي؛

1.2.6 د 'شامل' یا 'شاملیږي' کلیمې ته مراجعه پرته له کوم محدودیت څخه تعبیر کیږي؛

1.2.7 د تړون یوه لوړې، بند، جدول او یا ضمیمې ته اشاره، د دغه تړون یوه لوړې، بند، جدول او یا هم ضمیمې ته اشاره ده؛

1.2.8 یوه لوري، یو سند یا هوکړه لیک ته (ددې تړون په شمول) په اشاره کې، د هغه لوري د کار اجرا کوونکې، مدیران، ځایناستي او مجاز استازی شاملیږي، په شمول د هر هغه کس چې تبدیل شوی وي؛

1.2.9 یوه سند یا هوکړه لیک ته اشاره (د دغه تړون په ګډون) هغه سند یا هوکړه لیک ښیي چې وخت پر وخت تعدیل شوی، نوی شوی، ضمیمه شوی او یا عوض شوی وي؛

1.2.10 جدولونه او ضمیمې د دغه تړون برخه جوړوي؛

1.2.11 په تضمینونو کې تناقض او یا هم د تړون نقض ته له اشارې څخه موخه هغه تضمینونه دي چې واقعي، بشپړ او یا صحیح نه وي، یا هم ګمراه کوونکي او خطا ایستونکي وي؛ او

1.2.12 د کان کیندنې د دغه تړون هیڅ حکم باید د بل لوري په زیان له دې کبله تعبیر نه شي، چې ګویا نوموړی طرف د دې تړون د مسودې د ترتیب یا په دې تړون کې د کوم حکم د درج کولو مسئولیت درلود.

**کاري ورځې او د وخت محاسبې ته اشاره**

1.3 په دغه تړون کې هدف په لاندې ډول دی، مګر دا چې محتویاتو کې په بل ډول روښانه شوې وي:

1.3.1 له ورځې څخه موخه د وخت هغه موده ده چې په نیمه شپه کې پیلیږي او ۲۴ ساعته وروسته پای ته رسیږي؛

1.3.2 د ورځې له وخت څخه موخه د کابل، افغانستان وخت دی؛

1.3.3 له کاري ورځې څخه موخه د اونی ټولې ورځې شاملیږي، پرته له جمعې او عمومي رخصتیو، په کومو کې چې بانکونه د عمومي کاروبارونو لپاره په کابل، افغانستان کې پرانیستي وي؛

1.3.4 له 'میاشتې' څخه موخه د هجري شمسي جنترۍ میاشت او له 'کال' څخه موخه هجري شمسي کال دی؛

1.3.5 که د یوه فعالیت یا یوې پیښې ورځ یا د وخت یوه موده له یوې ټاکلې نیټې یا ورځې څخه مشخصه شوې وي، دغه ورځ په محاسبه کې نه شمېرل کیږي؛ او

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
ریاست دفتر مقام
14 00
C.A.D

1.3.6 که د دغه تړون پر اساس د دغه تړون د کوم فعالیت د ترسره کېدو ورځ، کاري ورځ نه وي، نو ورځ راتلونکي کاري ورځ تفسیر کېږي او فعالیت باید په راتلونکي کاري ورځ ترسره شي.

**غوره هڅې**

1.4 د دغه تړون هر حکم یو اړخ د «غوره هڅې» په ترسره کولو مکلف کوي، ترڅو د یو کار له ترسره کولو یا د یو څه د ترسره کېدو په اړه داډ حاصل شي ، خو په لاندې برخو کې د مکلفیت د ایجاد سبب نه شي:

1.4.1 د کوم شخص پر وړاندې کوم قانوني عمل یا اقدام وکړي؛

1.4.2 په مطلق ډول مکلفیت وټاکل شي چې یو کار دې ترسره شي یا ترسره کېږي، یا یا

1.4.3 داسې یو لګښت تحمیل شي چې د شرایطو مطابق تر معقولې کچې لوړ وي .

2 **د نافذه قوانینو ارجحیت؛ ظرفیت او اداره**

**ارجحیت**

2.1 که چېرې د لاندې نافذه قوانینو او اسنادو:

2.1.1 د دې تړون؛

2.1.2 د کانونو نافذه قانون؛

2.1.3 د هر جواز شرایط؛ او

2.1.4 نورو مصدقه اسنادو،

ترمنځ تناقض یا ټکر موجود وي، نو په دې صورت کې، پورتنیو اسنادو ته په ترتیب سره مراجعه کېږي.

**ظرفیت او استازې اداره**

2.2 وزیر دغه تړون د خپل اهلیت پر بنسټ د امارت په استازیتوب لاسلیک کوي.

2.3 د دې تړون لرونکی مني چې وزارت د امارت له خوا د استازي په توګه ټاکل شوی دی، تر څو د هغه په وسیله د امارت حقوق اعمال او د دغه تړون له مخې خپل مکلفیتونه ترسره کړي.

**لومړی برخه: د تړون موده او د جوازونو ورکول**

**3**

**د تړون ثبت او خپرول**

3.1 امارت مکلف دی چې د اړخونو له خوا د تړون تر لاسلیک وروسته به، وزارت په ۱۰ کاري ورځو کې:

3.1.1 د کانونو د نافذه قانون او مقرري سره سم به دغه تړون په رسمي دفتر کې ثبتوي؛ او

3.1.2 وزارت به د دغه تړون یوه نسخه او د تړون لرونکي د ذینفع مالکینو جزییات خپروي.

3.1.3 یو داسې لیکلی حکم به صادروي چې تړون لرونکي ته اجازه ورکوي چې د تړون لومړی جدول په دریمه برخه کې مشخصه شوې ځمکې ته لاس رسی ومومي، خو تر هغه بریده چې نوموړې ځمکه د ۷,۱,۲ مادې د حکمونو مطابق د هر پیشنهادي پلان د نهایي کولو لپاره اړینه وي، مشروط پر دې چې تړون لرونکی به د جواز تر ورکړې پورې د ساحوي کار د اختلال اجازه نه لري.

3.1.4 **موده**

3.2 د دغه تړون اجرا د انفاذ له نېټې څخه پیلېږي او په لاندې مواردو کې چې هر یو یې لومړی واقع شو، پر اساس یې تړون پای ته رسېږي:

3.2.1 هغه نېټه چې پر اساس یې دغه تړون د ۴,۶ او د ۴۶,۲ مادې د حکمونو مطابق پای ته رسېږي؛ او

3.2.2 هغه نېټه چې:

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
وزارت معادن و پترولیم
ریاست دفتر مقام
C.A.D

3.2.2.1 کله د دغه تړون طرفین په لیکلي ډول د تړون د پای ته رسولو په اړه هوکړې ته ورسیږي؛ او

3.2.2.2 د تړون پای ته رسېدل د اقتصادي کمېسیون له خوا منظور شي (د تړون دغه پای ته رسیدل د کان کېدنې د تخنیکي کمېټې د وړاندیز په تعقیب کیږي).

## 4 د اکتشافي جواز ورکول

### د اکتشافي جواز د حسن اجراء لپاره ضمانت

4.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د تړون د اجرا تر نېټې وروسته د ۲۰ کاري ورځو په جریان کې په اکتشافي پروګرام کې د شویو ژمنو لپاره د ضمانت په توګه وزارت ته د اجرا ضمانت وړاندې کړي. (دا په هغه صورت کې چې د اجرا ضمانت د تړون د اجرا تر نېټې مخکې وزارت ته نه وي وړاندې شوی.)

4.2 تړون لرونکی منې چې وزارت ته د اجرا ضمانت په وړاندې کولو کې پاتې راتلل، د تقصیر یو مورد ګڼل کیږي.

### مقدم شرایط

4.3 مقدم شرطونه یوازې د امارت د منفعت لپاره دي او کېدای شي چې د یوې لیکلي خبرتیا له لارې د تړون لرونکي لپاره معاف کړل شي.

4.4 هر لوری باید خپلې پوره هڅې وکاروي ترڅو د مقدمو شرطونو پلي کیدل د اجرا له نیټې وروسته یا د اختتام تاریخ مخکې په دادمن ډول ترسره شي.

4.5 یو لوری باید سملاسي:

4.5.1 د تړون هر لوری باید ژر تر ژره یو بل ته د مقدمو شرطونو د پلي کېدو یا نه پلي کېدو په اړه لیکلي بڼه خبر ورکړي.

4.5.2 د قرارداد نورو لوریو ته مرستندویه اسنادونه او لاسوندونه چمتو کول لازمي دي تر څو وکتل شي چې مقدم شرطونه پلي شوي او یا هم د پلي کېدو وړ نه دي.

4.6 د تړون هر لوری کولای شي چې د ۴,۷ مادې پر بنسټ د تړون بل لوري ته د لیکلي خبرتیا په لیږلو سره تړون په لاندې مواردو کې فسخ کړي:

4.6.1 کله چې یو مقدم شرط پوره نه شي او د ۴,۳ مادې پر اساس نوموړی مقدم شرط د ۳۵ کاري ورځو په جریان کې معاف شوی نه وي،

4.6.2 کله چې یو لوری د یو مقدم شرط له پوره کېدو څخه راضي نه وي یا هم نوموړی شرط د ۴,۳ مادې پر اساس د تړون د پای نېټې سره سم یا تر هغه مخکې معاف شوی نه وي.

4.7 امارت نه شي کولی چې د ۴,۶ بند پر بنسټ دغه تړون فسخ کړي، مګر دا چې:

4.7.1 امارت د ۴,۴ او ۴,۵ بندونو پر اساس یې خپل مکلفیتونه ترسره کړي وي؛ او

4.7.2 د فسخ پیشنهاد د اقتصادي کمېسیون له خوا منظور شي (د کانونو د تخنیکي کمیټې له سپارښتنې وروسته).

4.8 که چیرې دا تړون د ۴,۶ بند پر بنسټ فسخ کړای شي، نو ۴۷ ماده د پلي کیدو وړ ګرځي.

### د اکتشافي جواز ورکړه

4.9 امارت مکلف دی چې څومره ژر ممکنه وي تړون لرونکي ته د اکتشاف جواز د ۱۵ کاري ورځو په جریان کې چې د لاندې نېټې څخه محاسبه کیږي، ورکړي:

4.9.1 د انفاذ نېټه

4.9.2 هغه نېټه چې د تړون لرونکی د ۴,۱ مادې پر اساس وزارت ته د اجرا ضمانت وړاندې کړی وي؛ او

4.9.3 هغه نیته چې کله هر یو مقدم شرط پوره یا هم د ۴,۳ مادې پر اساس معاف شوی وي؛ ،

4.10 امارت ژمنه کوي چې وزارت به د اکتشاف د جواز تر صدور وروسته د ۱۰ کاري ورځو په بهیر کې لاندې چارې سرته رسوي:

4.10.1 د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم د اکتشاف جواز به په رسمي دفتر کې ثبتوي؛ او

4.10.2 د کانونو نافذه قانون او مقررې پر اساس به د اکتشاف جواز یوه کاپي خپروي.

## 5 د استخراج د جواز ورکړه

### د لومړیتوب حق

5.1 د ترون د مودې په جریان کې، ترون لرونکی د اکتشافي جواز د ساحې د ټولې یا یوې برخې لپاره د استخراج د یو یا څو جوازونو د ترلاسه کولو په برخه کې د لومړیتوب حق درلودلای شي.

### د استخراج جواز لپاره غوښتنه

5.2 ترون لرونکی کولای شي چې له اړینو اسنادو سره یو ځای د استخراج د جواز د ترلاسه کولو لپاره وزارت ته خپل غوښتنلیک وسپاري.

5.3 د شک د مخنیوي په خاطر، د چاپېریالي مدیریت پلان، د محلي ټولنې پلان او د روغتیا او خوندیتوب پلان چې د ۵,۲ فقرې سره سم وړاندې شوی وي، ښایي چې په هماغه بڼه وي او یا هم ښایي عوض شوی وي؛ چې په دې صورت کې د چاپېریالي مدیریت منظور شوی پلان، د محلي ټولنې منظور شوی پلان او د روغتیا او خوندیتوب منظور شوی پلان ګڼل کېږي.

### د کان کیندنې پروپوزل منظوري

5.4 د ۵,۲ مادې سره سم د اړینو اسنادو له ترلاسه کولو وروسته، امارت ژمنه کوي چې وزارت او د کان کیندنې تخنیکي کمېټه خپل مکلفیتونه پر وخت ادا کوي او هغه مشخص زماني چوکاټ به په پام کې نیسي چې د اقتصادي کمیسیون لخوا په تصویب شویو لارښودونو کې مشخص شوی وي.

5.5 امارت ژمنه کوي چې وزارت به د لاندې مواردو په اړه ترون لرونکي ته ژر تر ژره لیکلی خبر ورکوي:

5.5.1 د اقتصادي کمیسیون له خوا د کان کیندنې د اړونده پروپوزل رد یا تائید؛ او

5.5.2 په هغه صورت کې چې د کان کیندنې پروپوزل تائید شي او د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم د استخراج جواز تر صدور وروسته د کان کیندنې په پروپوزل کې د نویو شرایطو ځای پر ځای کول وړاندیز شي.

5.6 ترون لرونکی مني چې، د استخراج جواز به تر هغې نه ورکول کېږي، تر څو چې اقتصادي کمیسیون د کان کیندنې اړوند پروپوزل نه وي تصویب کړی او د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم اړین اسناد یې نه وي چمتو کړي.

### د استخراجي جواز لپاره د اجرا ضمانت

5.7 ترون لرونکی مکلف دی چې د کان کیندنې منظور شوي پروپوزل کې د شویو ژمنو لپاره د ضمانت په توګه وزارت ته د اجرا ضمانت تر هغې خبرتیا وروسته د ۴۰ کاري ورځو په جریان کې وړاندې کړي، کله چې وزارت د ۵,۵ مادې سره سم د ترون لرونکي د کان کیندنې پرپوزل تایید کړي.

5.8 ترون لرونکی مني چې که چیرې نوموړی د ۵,۷ مادې پربنسټ وزارت ته د اجرا ضمانت په وړاندې کولو کې پاتې راشي، نو دغه عمل د ۴۱,۱ مادې پر اساس د تقصیر یو مورد ګڼل کېږي.

### د استخراج جواز ورکول

Islamic Emirate of Afghanistan

5.9 د ۵,۱۰ مادې پر اساس، امارت ژمنه کوي چې وزارت به د استخراج جواز چې ترون لرونکي د ۵,۲ مادې پر اساس د هغه غوښتنه کړې ده، څومره چې ژر شوني وي، د ۱۵ کاري ورځو په جریان کې د لاندې شرایطو له پوره کېدو وروسته ترون لرونکي ته ورکوي:

5.9.1 له هغې نېټې وروسته کله چې اقتصادي کمېسیون د ۵,۲ مادې سره سم استخراجي پروپوزل تایید کړي او د استخراجي پروپوزل په اړه شرایط مشخص کړي، او

5.9.2 له هغې نېټې وروسته کله چې ترون لرونکی د ۵,۷ مادې سره سم وزارت ته د اجرا ضمانت وراندې کړي.

5.10 د ۵,۹ مادې سربېره، ترون لرونکی مني چې، وزارت تر هغې ترون لرونکي ته د استخراج جواز نه ورکوي، مګر دا چې وزارت رضایت او ډاډ حاصل کړي چې ترون لرونکي د دې ترون او د کانونو نافذه قانون او مقرري ټول مفادات رعایت کړي دي.

5.11 امارت ژمنه کوي چې د استخراج جواز تر صدور وروسته به وزارت د ۱۰ کاري ورځو په جریان کې لاندې کارونه ترسره کوي:

5.11.1 د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم په رسمي دفتر کې د استخراجي جواز ثبتول؛ او د استخراجي جواز د یوه کاپي خپرول.

## 6 د جواز ساحه

### د اکتشاف جواز

6.1 ترون لرونکی مني چې د اکتشاف جواز له ترلاسه کولو وروسته، نوموړی جواز ترون لرونکي ته اجازه ورکوي تر څو په ۱۰,۱ ماده کې درج شوي فعالیتونه د جواز په ساحه کې اجرا کړي، خو لاندې ساحه پکې نه شاملیږي:

6.1.1 هغه ساحه چې، د کانونو نافذه قانون له مخې ترون لرونکي تري وخت پر وخت انصراف کړی وي؛ او

6.1.2 هغه ساحه چې د ۶,۲,۲ مادې مطابق د اکتشاف جواز یې لغوه شوی وي.

6.2 ترون لرونکی دا مني چې، د جواز د ټولې یا یوې برخه ساحې په اړه چې په ۶,۱ ماده کې ورته اشاره شوې، د اکتشاف جواز به:

6.2.1 د هغې ساحې په اړه د تطبیق وړ وي، چې د استخراجي جواز په ساحه کې نه راځي؛ او جواز د هغې ساحې په اړه چې د کتنې اخیستنې د جواز تابع نه ده؛ د اعتبار وړ وي؛ او

6.2.2 د جواز د هغې برخې ساحې په اړه چې د استخراجي جواز تابع نه وي، فسخ شوی وي.

### د استخراج جواز

6.3 ترون لرونکی مني چې د جواز له ترلاسه کولو وروسته، نوموړی جواز ترون لرونکي ته اجازه ورکوي چې په ۱۱,۱ ماده کې ذکر شوي فعالیتونه د جواز ساحه کې ترسره کړي، خو هغه ساحې پکې نه شاملیږي چې ترون لرونکي د نافذه قانون له حکمونو سره سم تري انصراف کړی وي.

6.4 ترون لرونکی مني چې، د استخراج جواز ساحه به تر هغې اندازې نه پراخیږي، کوم چې د استخراجي فعالیتونو لپاره په قانع کوونکي توګه اړینه بلل کیږي.

Islamic Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم
ریاست دفتر مقام

## دویمه برخه: د پلانونو تسلیمول او منظوري

7 عمومي پلانونه

**وړاندېز شوي پلانونه**

7.1 ترون لرونکی دا مني چې:

7.1.1 ترون لرونکي ته د دغه ترون ورکړه د پیشنهادي پلانونو د هغو نسخو پر بنسټ ترسره شوی، چې د داوطلبی اسناد هم یکې شامل دي ؛ او

7.1.2 د پیشنهادي پلانونو هغه نسخې چې د منظوری لپاره وړاندې شوې دي، باید د پیشنهادي پلانونو هغو نسخو سره ورته وي چې د داوطلبی اسناد یکې شامل دي او یوازې په هغه بڼه د بیاکتنې تابع دي چې د اړینو تعدیلاتو مستلزم وي او د تاییدوونکي یا باصلاحیته مرجع نظریات په پام کې ونیسي.

**منظور شوي اړین پلانونه**

7.2 ترون لرونکی مني چې د اکتشافي جواز او د استخراجي جواز د یو شرط په توګه په ساحه کې د کېندنې د کار تر پیل مخکې، باید د هر پیشنهادي پلان لپاره له اړونده صلاحیت لرونکي مرجع څخه منظوري ترلاسه کړي (البته دا په هغه صورت کې چې د اکتشافي یا استخراجي جواز تر صدور مخکې، پلان د باصلاحیته مرجع له خوا نه وي منظور شوی.)

**منظور شویو پلانونو ته عامه لاسرسی**

7.3 ترون لرونکی مني چې منظور شوي پلانونه به د کانونو نافذه قانون سره سم د عامه لاسرسي وړ وي.

**د داخلي امنیت پلان**

7.4 د شک د مخنیوي لپاره:

7.4.1 دویمه برخه د داخلي امنیت د پلان په اړه د تطبیق وړ نه ده؛ او

7.4.2 د داخلي امنیت د پلان منظوري او یا هم د داخلي امنیت په منظور شوي پلان کې تغیرات د ۲۸مې مادې پر اساس تنظیمېږي.

8 د پلانونو منظوري

**د باصلاحیته مرجع له خوا ارزونه او منظوري**

8.1 که چېرې:

8.1.1 د اکتشافي جواز په صورت کې، د داوطلبی پروسې په جریان کې د ترون لرونکي لخوا وړاندې شوی پلان د انفاذ له نیټې څخه مخکې د اړونده با صلاحیته مرجع لخوا منظور شوی نه وي؛ یا

8.1.2 د استخراجي جواز په صورت کې، د استخراج وړاندې شوی پلان چې د ترون لرونکي له خوا د کانونو نافذه قانون پر اساس وړاندې شوی وي او د استخراجي جواز تر ورکړې مخکې د اړونده باصلاحیته مرجع له لوري نه وي منظور شوی،

امارت ژمنه کوي چې د انفاذ یا د استخراجي جواز تر ورکړې وروسته تر کوم حده چې عملي وي لاندې اقدامات ترسره کوي:

8.1.3 اړونده باصلاحیته مرجع د کانونو نافذه قانون او مقررې له مخې د پیشنهادي پلان ارزونه ترسره کوي؛ او.

8.1.4 که چېرې منظوروونکي مرجع:

8.1.4.1 د کانونو نافذه قانون مطابق نوموړی وراندې شوی پلان منظور کړي، نو نوموړی مرجع باید ترون لرونکي ته په لیکلي بڼه خبر ورکړي (له هغو شرایطو سره یو ځای چې د پلان د منظوری لپاره وضع شوي وي.) )؛ یا

8.1.4.2 د کانونو نافذه قانون مطابق نوموړی وراندې شوی پلان تعدیل ته اړتیا لري او یا د نوموړي وړاندې شوي پلان په اړه خپل نظر وراندې کوي، نو دغه منظوروونکي مرجع باید ترون لرونکي ته په لیکلي بڼه د پلان تعدیل او یا نظر څخه خبر کړي (البته که چیرې د تطبیق وړ وي).

**د منظوروونکي مرجع له خوا د تعدیلاتو غوښتنه**

8.2 که چیرې منظوروونکي مرجع د ۸,۱,۴,۲ مادې پر اساس ترون لرونکي ته خبرتیا لیږي، نو:

8.2.1 ترون لرونکی باید پر وړاندې شوي پلان بیا کتنه وکړي ترڅو اړین تعدیلات په پلان کې شامل کړي او هم هغه نظریات په پام کې ونیسي چې د تائیدوونکي مرجع له خوا وراندې شوې دي؛

8.2.2 ترون لرونکي باید وراندې شوی پلان (د ۸,۲,۱ مادې پر اساس د پلان د بیاکتل شوې نسخې په شمول) د هغه بیا کتنې په ګډون چې په ۸,۲,۱ بند کې اشاره ورته شوې) د خبرتیا له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته تسلیم کړي؛

8.2.3 د ۸,۲,۲ مادې پر اساس، د وراندې شوي پلان له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، امارت ژمنه کوي چې منظوروونکي مرجع به وراندې شوی پلان بیا ارزوي او د ۸,۱,۳ او ۸,۱,۴ مادو د پراونو مطابق به ترون لرونکي ته خبر ورکوي؛ او

8.2.4 هغه پراوونه چې په ۸,۲,۱ او ۸,۲,۳ مادو کې ورته اشاره شوې ، تر هغې به تکرارېږي ترڅو چې منظوروونکي مرجع د کانونو نافذه قانون پر اساس اړونده پلان منظور کړي. .

9 **د منظور شویو پلانونو عوض کول**

**د داما پلان عوض کول**

9.1 ترون لرونکی مکلف دی چې منظور شوی پلان نوی او بیا کتنه پرې وکړي او د کانونو نافذه قانون او مقرري د غوښتنې په صورت کې نوی وراندې شوی پلان به د منظور شوي پلان پر ځای استفاده او وراندې کړي.

9.2 ترون لرونکی مني چې نوموړی کولای شي چې له نافذه مقررې سره سم وزارت ته د پیشنهادي پلان په وړاندې کولو سره د یو منظوري شوي پلان د عوض کولو لپاره وړاندیز وکړي (ولو که په پلان کې دغه بدلونونه د ۹/۱ مادې له مخې یا هم په بل ډول اړین ګڼل شوي وي.)

**د منظوروونکي مقام له خوا ارزونه او منظوري**

9.3 امارت ژمنه کوي چې د ۹,۲ مادې پر اساس د وراندې شوي پلان له ترلاسه کولو وروسته څومره چې ژر عملي وي:

9.3.1 اړونده منظورونکي مقام باید وراندې شوی پلان د کانونو نافذه مقررې مطابق و ارزوي؛ او

9.3.2 که چیرې نوموړي منظوروونکي مقام:

9.3.2.1 وراندې شوی پلان د کانونو نافذه مقررې مطابق منظوروي، باید سملاسي ترون لرونکي ته د منظوری او د منظوری د نویو شرایطو د جزییاتو په اړه په لیکلي بڼه خبر ورکړي ؛ یا

9.3.2.2 که په وړاندې شوي پلان کې د کانونو نافذه مقررې پر اساس تعدیلاتو ته اړتیا وي یا هم د یاد پلان په اړه نظر وړاندې شوی وي، منظوروونکي مقام به د تعدیلاتو یا نظر په اړه تړون لرونکي ته سملاسي خبر ورکوي (البته که د تطبیق وړ وي.)

**هغه تعدیلات چې منظوروونکي مقام یې غوښتنه کوي**

9.4 که چېرې د یوې منظوروونکي مرجع له خوا د ۹,۳,۲,۲ مادې له مخې تړون لرونکي ته خبرتیا لېږل کېږي، نو په دې صورت کې به ۸,۲,۱ او ۸,۲,۴ مادې له لازمو تغیراتو سره د تطبیق وړ وي.

## درېیمه برخه: په جواز کې ژمنه شوي حقوق

### 10 د اکتشاف جواز کې ژمنه شوي حقوق

**مجاز فعالیتونه**

10.1 تړون لرونکی مني چې د جواز له ترلاسه کولو وروسته د اکتشاف جواز تړون لرونکي ته اجازه ورکوي چې د اکتشاف جواز، ددې تړون او د کانونو نافذه قانون له شرطونو سره سم د جواز په ساحه کې اړونده فعالیتونه ترسره کړي.

**د نمونو راټولولو د مالکیت حق**

10.2 د ۱۰,۳ مادې په پام کې نیولو سره:

10.2.1 تړون لرونکی مکلف دی چې ټولې منرالي نمونې او برمه کارې (Core Drilling) د جیولوجیکي سروې لپاره چمتو کړي او همدارنګه د کانونو نافذه قانون له مخې د اکتشافي جواز د مودې له پای ته رسېدو، انصراف او فسخ څخه وروسته ټول اکتشافي معلومات وزارت ته سپاري؛ او .

10.2.2 د اکتشافي جواز د مودې له پای ته رسېدو، انصراف یا فسخ وروسته د ټولو منرالي نمونو، برمه کارۍ او هم د اکتشافي معلوماتو د مالکیت حق له تړون لرونکي څخه امارت ته انتقالېږي.

10.3 د دې تړون پر ۱۰,۲ مادې او د کانونو نافذه قانون سربېره:

10.3.1 تړون لرونکی اړ نه دی، چې د جیولوجیکي سروې لپاره د منرالونو نمونې، د برمه کارۍ یا اکتشاف معلومات چمتو کړي؛ او

10.3.2 امارت به د کانونو د نمونو، د برمه کارۍ یا اکتشافي معلوماتو د مالکیت ترلاسه کولو حق نه لري،

خو په دې شرط چې دا ډول منرالي نمونې، د برمه کارۍ معلومات یا اکتشافي معلومات د جواز د ساحې په یوې برخې پورې چې د استخراج د جواز په ورکولو کې لغوه کیږي، اړه ولري، لکه څرنګه چې ۶,۲,۲ ماده کې ورته اشاره شوې ده.

### 11 د استخراج په جوّاز کې ژمنه شوي حقوق

**مجاز فعالیتونه**

11.1 تړون لرونکی مني چې د جواز له ترلاسه کولو وروسته، د استخراج جواز تړون لرونکي ته اجازه ورکوي چې د استخراج جواز، ددې تړون او د کانونو نافذه قانون له شرطونو سره سم د جواز په ساحه کې اړونده فعالیتونه ترسره کړي.

**د منرالونو د مالکیت حق**

11.2 د ۱۱,۴ مادې په رعایت، د منرالونو د نوعیت په تفکیک سره ټول هغه منرالونه چې د استخراج د جواز او د دې تړون د شرطونو مطابق را ایستل کېږي په هیواد دننه کې د بشپړ پروسس او د امارت د ونډې ورکولو څخه وروسته د دغه تړون مطابق د تړون لرونکي ملکیت ګڼل کېږي.

11.3 تړون لرونکی مکلف دی چې ټولې منرالي نمونې او برمه کارې د جیولوجیکي سروې لپاره چمتو کړي او همدارنګه د استخراجي جواز د مودې له پای ته رسېدو، انصراف او فسخ څخه وروسته ټول استخراجي معلومات وزارت ته وسپاري.

11.4 د استخراجي جواز د مودې تر پای ته رسېدو، انصراف یا فسخ وروسته، د ټولو منرالي نمونو او برمه کارۍ د مالکیت حق له ترون لرونکي څخه امارت ته انتقالیږي.

## څلورمه برخه: د جواز شرطونه

### 12 د اکتشافي جواز شرطونه

**شرطونه**

12.1 ترون لرونکی د اکتشافي جواز د شرطونو او همدارنګه د هغو شرطونو پر رعایت کولو باندې مکلف دی چې لاندې ذکر شوي:

12.1.1 د کانونو نافذه قانون؛

12.1.2 ددغه ترون د لومړي جدول په دویمه برخه کې ذکر شوي شرطونه (د کانونو نافذه قانون مقاصدو ته په پام سره هغه اضافي شرطونه چې ترون لرونکی یې باید رعایت کړي.)؛ او

12.1.3 د کانونو د نافذه مقرري شرطونه

**د اکتشاف د منظور شوي پروګرام تعدیل**

12.2 ترون لرونکی ښایي وزارت ته د اکتشاف د نوي تعدیل شوي پیشنهادي پروګرام په وړاندې کولو سره په منظور شوي اکتشافي پروګرام کې د تعدیل یا بدلون غوښتنه وکړي.

12.3 ترون لرونکی منې چې د کانونو نافذه قانون له مخې، وزارت ښایي د کانونو د تخنیکي کمېټې له سپارښتنې او د اقتصادي کمېسیون تر منظورۍ مخکې د بدلون هغه غوښتنه چې د دې ترون د ۱۲،۲ مادې پر اساس ترسره شوې ده، تایید یا رد کړي.

12.4 امارت ژمنه کوي چې وزارت به د وړاندیز شوي بدلون د رد یا تایید په اړه سملاسي ترون لرونکي ته په لیکلې بڼه خبر ورکوي.

**د منظور شوي اکتشافي پروګرام څېړول**

12.5 ترون لرونکی منې چې د منظور شوي اکتشافي پروګرام یوه کاپي د کانونو نافذه قانون د حکمونو مطابق د عامه لاسرسي وړ وي.

### 13 د کتې اخیستنې جواز شرطونه

**شرطونه**

13.1 ترون لرونکی د کتې اخیستنې جواز د شرطونو او همدارنګه د هغو شرطونو پر رعایت کولو باندې مکلف دی چې لاندې ذکر شوي:

13.1.1 د کانونو نافذه قانون؛ او

13.1.2 د دغه ترون د دویم جدول په لومړۍ برخه کې ذکر شوي شرطونه (د کانونو نافذه قانون مقاصدو ته په پام سره نور هغه اضافي شرطونه چې ترون لرونکی یې باید رعایت کړي)، د کان کیندنې د اړوندو هغو شرایطو په ګډون چې د اقتصادي کمېسیون له لوري د جواز تر صدور وروسته وضع کیږي.

## پنځمه برخه: مالي موضوعات

### 14 د ځمکې د سطحې کرایه

14.1 دې ته له پام پرته چې د ځمکې د ځمکې سطحې کرایه امارت، مالک او یا هم د جواز د ساحې د یوې برخې مستاجر ته تادیه کیږي، ترون لرونکی باید د هر مالي کال په پیل کې امارت ته د ځمکې د سطحې کرایه په لاندې توګه تادیه کیږي:

14.1.1 د اکتشاف مرحلې په لومړۍ دوره کې ۳۷۵ افغانۍ فی هکتار

14.1.2 د اکتشاف په دوهمه مرحله کې ۷۵۰ افغانۍ فی هکتار

14.1.3 د اکتشاف په دریمه مرحله کې ۱۱۲۵ افغانی في هکتار

14.1.4 د کټې اخیستنې په مرحله کې ۱۸۷۵ افغانی في هکتار

14.2 تړون لرونکی مني، که د جواز د ساحې د یوې برخې د ځمکې د سطحې د یوې برخې کرایه د ځمکې مالک یا مستاجر ته د تادیې وړ وي، اړوند مقدار به د تړون لرونکي په وسیله وزارت ته تادیه کیږي (څرنګه چې په ۱۴,۱ ماده کې ذکر شوي) او بیا به د وزارت له خوا د کانونو نافذه مقررې سره سم د ځمکې مالک ته سپارل کیږي.

**15 فیسونه**

15.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د نافذه مقررې سره سم وزارت ته ټول اړین فیسونه تادیه کړي.

**16 حق الامتیاز (رویالټي)**

**د حق الامتیاز مکلفیتونه**

16.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د استخراجي جواز مطابق له ترلاسه کړي د طلا نهایی محصول (په هیواد دننه د بشپړ پروسس) څخه ۵۶٪ حق الامتیاز (رویالټي) امارت ته د طلا د جنس څخه ورکړي. د پروژې اړوند ټول مصارف د تړون لرونکي په غاړه دي.

**د خپلواک کارپوه لګښتونه**

16.2 تړون لرونکی مني چې:

16.2.1 له نافذه مقررې سره سم د خپلواک متخصص د ټولو فیسونو او لګښتونو د ورکړې مسئولیت لري؛

16.2.2 له نافذه مقررې سره سم وزارت ممکن دا غوښتنه وکړي چې:

16.2.2.1 تړون لرونکی د خپلواک کارپوه فیسونه او لګښتونه مستقیم هماغه خپلواک کارپوه ته ورکړي؛ یا

16.2.2.2 تړون لرونکی د خپلواک کارپوه ټول هغه فیسونه او لګښتونه چې د وزارت لخوا ورکړل شوي، د اړوندو رسیدونو د کاپي په ترلاسه کولو سره بېرته وزارت ته تادیه کړي.

16.3 که چېرې وزارت د نافذه مقررې سره سم یو خپلواک کارپوه استخدام کړي، نو:

16.3.1 وزارت کولای شي چې د خپلواک کارپوه تر استخدام وروسته د یوې لیکلي خبرتیا له لارې له تړون لرونکي څخه غوښتنه وکړي چې د خپلواک کارپوه د فیسونو او لګښتونو مجموعي مقدار پیسې وزارت ته تادیه کړي (څرنګه چې د خپلواک کارپوه د استخدام په شرایطو کې او یا هم په بل ډول د وزارت له خوا مشخص شوي وي)؛ او

16.3.2 که چېرې وزارت د ۱۶,۳,۱ مادې مطابق تړون لرونکي ته خبرتیا لیږي، نو:

16.3.2.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د خبرتیا له نېټې څخه وروسته د ۱۵ کاري ورځو په جریان کې وزارت ته په خبرتیا کې تعین شوې مقدار پیسې ورکړي؛

16.3.2.2 د تړون لرونکي له خوا په ۱۶,۳,۲,۱ ماده کې د ذکر شویو مکلفیتونو رعایت ته په پام سره، تر هغې چې تړون لرونکی د ۱۶,۳,۲,۱ مادې پر اساس د خپلواک کارپوه فیسونه او لګښتونه تادیه کوي، وزارت مکلف دی چې د خپلواک کارپوه د استخدام د شرایطو پر اساس د یاد کارپوه ټول فیسونه او لګښتونه تادیه کړي؛ او

16.3.2.3 که چېرې د خپلواک کارپوه ټول فیسونه او لګښتونه:

16.3.2.3.1 د ۱۶,۳,۲,۱ مادې مطابق د تړون لرونکي لخوا له تادیه شوې مقدار څخه ډیر وي، نو تړون لرونکی د نافذه مقررې له مخې د دغو فیسونو او لګښتونو د پاتې برخې مبلغ د تادیې مسؤل دی؛ یا

16.3.2.3.2 که چېرې د ۱۶,۳,۲,۱ مادې مطابق د تړون لرونکي لخوا له تادیه شوي مقدار څخه کم وي، نو امارت ژمنه کوي چې وزارت به د خپلواک کارپوه د فیسونو او لګښتونو

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
ریاست دفتر مقام
C.A.D

د نهایي بېل له ترلاسه کولو وروسته څومره چې ژر عملي وي. پاتې یاد مبلغ بېرته ترون لرونکي ته تادیه کوي.

## 17 مالیات

**مالیات په عمومي ډول**

17.1 د ۱۷,۲ مادي حکم ته په پام سره، ترون لرونکی او د هغه ټول استازي مکلف دي چې له نافذه قوانینو سره سم خپل ټول مالیات او محصولات تادیه کړي.

**معافیتونه**

17.2 د ترون ارخونه مني چې، د کانونو نافذه قانون سره سم ترون لرونکی له دې کبله د ځمکې د مالیې پر ورکولو مکلف نه دی چې جواز لري.

**د استخراجي صنایعو پر شرایط برابر مالیه ورکوونکی**

17.3 ترون لرونکی د استخراجي جواز له ترلاسه کولو سره سم، د مالیاتي نافذه قوانینو پر اساس د استخراجي صنایعو واجد شرایط مالیه ورکوونکی ګڼل کېږي.

**د مالیاتي فورمونو ترتیب او تسلیمول**

17.4 ترون لرونکی مکلف دی چې خپله بیلانس پاڼه او د هر کال نور مالي راپورونه د مالیاتو نافذه قانون او د محاسبي د معیارونو مطابق ترتیب کړي.

17.5 څومره ژر چې شوني وي، د ترون لرونکي له خوا د هر مالي کال لپاره د مالي راپورونو له چمتو کولو وروسته، چې دغه راپورونه باید د راتلونکي مالي کال تر پیل وروسته تر ۳ میاشتو پورې د زیاتې مودې لپاره و نه ځنډېږي، ترون لرونکی مکلف دی چې د خپلې پانګونې راپور وزارت ته وسپاري.

17.6 د هر کال مالي راپورونه باید له لاندې اسنادو سره مل وي:

17.6.1 له ټولو دخیلو ارخونو سره د ترون لرونکي د ترسره شویو معاملو لېست، چې ټول مالي حسابونه یکې منعکس شوي وي او په هره معامله کې لاندې موضوعات په ګوته کړي:

17.6.1.1 دخیل لوری؛

17.6.1.2 د معاملې اندازه؛

17.6.1.3 د معاملې موضوع؛ او

17.6.1.4 دا چې آیا معامله د ترون لرونکي او د معاملې د مقابل لوري تر منځ د بیې د کوم ترون پر اساس رامنځته شوې ده که نه؛ او

17.6.2 یو تاییدي سند چې د ترون لرونکي د مالي مسئول (یا بل صلاحیت لرونکي مقام) په وسیله لاسلیک شوی وي او دا تایید کړي چې د نوموړي کال په جریان کې:

17.6.2.1 ترون لرونکي د دغه ترون او د مالیاتو احکام رعایت کړي دي؛

17.6.2.2 د هغو توکو یا خدماتو په اړه چې د ترون لرونکي او د معاملې د یو اړخ ترمنځ د بیې د کوم ترون پر اساس پرې موافقه شوې وي. د هماغه کال په جریان کې د ترون لرونکي شوې تادیات د بیې د ترون د شرایطو پر اساس محاسبه شوي دي؛ او

17.6.2.3 هغه توکي یا خدمات چې د ترون لرونکي او د مقابل لوري تر منځ په معامله کې پلورل شوي یا چمتو شوي وي او دغه معامله د بیې د کوم ترون پر اساس نه وي ترسره شوې، په هماغه اړونده موده کې د یادو توکو یا خدماتو قیمتونه د مالیاتو د حکمونو پر اساس محاسبه شوي وي.

17.7 ترون لرونکی مکلف دی چې د هغه او مقابل لوري ترمنځ د هري معاملې اسناد له ځان سره وساتي. کوم چې یاد اسناد باید د معاملې د بيې او د مالیاتو د قانون د رعایت په اړه شواهدو په توګه کار ورکړي.

موضعي مالیه

17.8 ترون لرونکی مکلف دی چې پر عایداتو د مالیاتو نافذه قانون او نور هغه نافذه تقنیني سندونه رعایت کړي چې ترون لرونکی د موضعي مالیې پر ورکړې او یا هم بل شخص ته (که هغه د افغانستان تبعه وي یا هم دلته مقیم وي) او نور هغه فزیکي اشخاص یا اداري، ترون لرونکی یا د هغه اړونده قراردادیان چې یاد اشخاص یې استخدام کړي وي، د تادیاتو په بدل کې د مالیاتو پر ورکړې مکلف ګرځوي.

## 18 ګمرکي محصولات

د ترون لرونکي حقونه

18.1 د دې ترون ۱۸ مادې ته په پام سره چې پربنسټ یې ترون لرونکی د خپلو تعهداتو په سرته رسولو باندې مکلف دی، ترون لرونکی او د هغه استازي کولای شي چې:

18.1.1 ټول هغه توکي، مواد، تېل او وسایل چې بنایي د منرالي فعالیتونو لپاره ورته اړتیا ولري، افغانستان ته وارد کړي، او

18.1.2 د ۳۳ مادې په رعایت سره، د طلا د پروسس نهایي محصول صادر کړي.

د ترون لرونکي مکلفیتونه

18.2 ترون لرونکی مکلف دی چې د منرالي فعالیتونو لپاره د توکو د وارداتو او صادراتو په برخه کې د ګمرکونو نافذه قانون رعایت کړي.

18.3 د ۱۸,۲ بند له محدودولو پرته، ترون لرونکی باید ګمرکي تعرفې، مالیات، خسارې او نور ورته لګښتونه چې د اړوند قانون په وسیله د توکو د صادراتو او وارداتو په برخه کې (د تولید په ګډون) وضع کېږي، تادیه کړي.

د امارت مکلفیتونه

18.4 د ترون لرونکي له خوا د دې ترون(د شک د مخنیوي لپاره د ترون د ۳۳ مادې په شمول) او د ټولو نافذه قوانینو او حکمونو په رعایت سره، امارت ژمنه کوي چې اړونده اداري د ترون لرونکي له خوا د وارداتو او صادراتو په برخه کې د اداري، تصفیه او تصدیق اړونده چارو د تسریع په برخه کې همکاري کوي.

## 19 امارت ته تادیات

د تادیاتو بڼه

19.1 د ترون لرونکي له خوا هر ډول تادیات چې د دې ترون، د کانونو نافذه قانون او مقررې پربنسټ امارت ته ترسره کېږي، ترون لرونکی مکلف دی چې دغه ډول تادیات په افغانیو د امارت واحد حساب ته وسپاري.

کسر

19.2 ترون لرونکی مکلف دی چې ددې ترون او د کانونو نافذه قانون او مقررې پر اساس خپل ټول تادیات امارت ته په داسې بڼه ترسره کړي چې له یاد مبلغ څخه په مالیاتو یا نورو مصارفو کې کسر نه کړي، مګر دا چې دغه ډول کسر کول د کانونو نافذه قانون او مقررې پربنسټ جواز ولري.

په تادیاتو کې پاتې راتلل

19.3 که چېرې ترون لرونکی پر خپل وخت د ځمکې د سطحې د کرایې، فیسونو، رویالټي یا نورو هغو مالي تعهداتو چې په ترون کې راغلي دي، په تادیه کولو کې پاتې راشي، نا تادیه شوی مبلغ پور بلل کېږي او ترون لرونکی امارت ته د هغه پر ورکړې مکلف دی.

معاوضه

19.4 امارت کولای شي د ځمکي د سطحي د کرايي، د فيس، رويالټي يا ددي تړون، د کانونو نافذه قانون او مقررې پربنسټ له بل مدرک څخه پاتي تاديات چي تړون لرونکي پر خپل وخت امارت ته نه وي تاديه کړي، په هغو پيسو کي معاوضه کړي چي امارت د دې تړون، پربنسټ تړون لرونکي ته يي پر ورکړي مکلف دی، خو په دې شرط چي د دې تړون د ۱۹،۵ مادې پربنسټ دغه معاوضه به پور نه ګڼل کېږي او د تړون لرونکي له خوا به د تاديي وړ نه وي.

19.5 د شک د مخنيوي لپاره، هغه مقدار تاديات چي ددې تړون د ۱۹،۵ مادې پربنسټ د امارت له خوا معاوضه کېږي، پور نه ګڼل کېږي او د تړون لرونکي له خوا به د تاديي وړ نه وي

## 20 د بهرني پولي واحد (کرنسي) تاديه او موجوديت

### بانکي حسابونه

20.1 تړون لرونکی کولای شي بانکي حسابونه پرانيزي او په هغه کي پيسي وساتي:

20.1.1 د افغانستان په قلمرو کي په افغانی يا ډالرو؛ او

20.1.2 له افغانستان څخه بهر په بهرنی کرنسي.

### د بهرنيو اسعارو تبادله

20.2 د دې تړون پربنسټ هر ډول تاديات بايد پر ډالر يا افغانی وي.

20.3 که چېرې په تړون کي کوم تاديات پر ډالرو بنودل شوي وي، او پر افغانی ترسره کېږي، نو تاديه کېدونکي مقدار پيسي به د ورځي د تبادلي د نرخ مطابق حسابېږي.

20.4 که چېرې په تړون کي کوم تاديات پر افغانی بنودل شوي وي او پر ډالرو ترسره کېږي، نو تاديه کېدونکي مقدار پيسي به د تادياتو په ورځ د ورځي د تبادلي د نرخ مطابق حسابېږي.

### واردات او د پيسو حواله

20.5 د تبادلي په برخه کي د هر ډول عمومي کنترولي اقداماتو په رعايت سره، چي په يوه محدوده زماني موده کی په نابېيلي توګه د بيرني مالي حالت په صورت کي وضع کېږي:

20.5.1 تړون لرونکی ممکن:

20.5.1.1 پيسي ترلاسه کړي، و يي ساتي، تبادله يي کړي هغه په داسي بنه مصرف کړي چي څنګه يي اختيار لري او

20.5.1.2 د ۲۰،۵،۱،۱ مادې له محدودولو پرته، تړون لرونکی بنايي په آزاد ډول:

20.5.1.2.1 د پروژې د ترسره کولو لپاره ټولي اړيني پيسي افغانستان ته وارد کړي ؛ او

20.5.1.2.2 له افغانستان څخه بهر پيسي حواله کړي، افغانستان ته يي حواله کړي او يا ټولي مصرف کړي (د ټولو عوايدو په شمول چي په افغانستان کي يي له پلور، تبادلي او د محصولاتو د صادرولو څخه ترلاسه شوي)؛ او

20.5.2 ټولي حوالي او تاديات چي د تړون لرونکي له خوا له هېواد څخه بهر او له بهر څخه هېواد ته ترسره کېږي، له هر ډول مستقيمو او غير مستقيمو جريمو يا محدوديتونو څخه آزاد وي.

## 21 مالي راپور ورکونه او محاسبه

### مالي راپور ورکونه

21.1 تړون لرونکی مکلف دی چي د مالي راپور ورکوني او تصديق هغه شرايط چي د نافذه قوانينو پر اساس په افغانستان کي پر بهرنيو شرکتونو د تطبيق وړ دي، رعايت کړي.

### محاسبه

21.2 د دغه تړون پر اساس، د تړون لرونکي ټول محاسبات بايد پر افغانيو باندي ثبت شي.

## شپږمه برخه: نور حقوق او مکلفیتونه

**22. د منرالي فعالیتونو عمومي کړندود**

22.1 تړون لرونکی مکلف دی چې، ټول منرالي فعالیتونه په پوره دقت سره ترسره کړي (همدارنګه د شک د مخنیوي لپاره، تړون لرونکی مکلف دی چې د غوره هڅو په کاروني سره د امارت هر ډول ملکیت یا هم د جواز په ساحه کې د درېیم شخص هر ډول ملکیت ته له زیان رسولو څخه ډډه وکړي).

**23. ضمني منرالونه**

23.1 تړون لرونکی مکلف دی چې په جواز کې له مشخص شوي اصلي منرال پرته که د جواز په ساحه کې کوم بل ضمني منرال پیدا شي، د ۴۸ ساعتونو په موده کې به وزارت ته په رسمي توګه خبر ورکوي.

23.2 د ضمني منرالونو د پیدا کیدو په صورت کې وزارت حق لري چې په اړه یې لازمه پریکړه وکړي.

**24. بیمه (تکافل)**

24.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د اسلامي شریعت او نافذه قوانینو له حکمونو سره سم:

24.1.1 د تړون په موده کې اړینه بیمه تخصیص او اجرا کړي؛

24.1.2 له هغو اعمالو څخه دې ډډه وکړي چې ښایي د اړتیا وړ بیمې د بې ګټې کېدو، زیانمنېدو یا ابطال سبب کیږي؛ او

24.1.3 وزارت ته به د لاندې مواردو په صورت کې فورا خبر ورکوي:

24.1.3.1 هر هغه عمل چې د اړتیا وړ بیمه بې ګټې، زیانمنه او ابطالوي؛ یا

24.1.3.2 هره هغه ادعا چې د منرالي فعالیتونو د کړندود په تړاو د اړتیا وړ بیمې پر اساس شوې وي.

**د تړون لرونکي مکلفیتونه**

24.2 تړون لرونکی مکلف دی چې :

24.2.1 د ځایي ټولنو حقوق، دودونه او عنعنات وپېژني او درناوی یې وکړي؛

24.2.2 ډاډ به ورکوي چې د دوی عملیاتي پالیسي ګانې او لارښووني د بشري حقوقو په برخه کې د دوی مسئولیتونه منعکس کولای شي، د هغه مسئولیت په شمول چې د منرالي فعالیتونو څخه د راولاړېدونکي بشري حقونو د هر منفي اغېز مخنیوی کوي ؛ او

24.2.3 څومره ژر چې شوني وي، د منرالي فعالیتونو څخه د را ولاړېدونکو بشري حقونو د منفي اغېزو مخنیوی کوي، د لاندې مواردو په شمول:

24.2.3.1 د منفي اغېزو قربانیانو ته د خسارې جبران یا د منفي اغېزو قربانیانو ته بله بدیله لاره وړاندې کول؛

24.2.3.2 د منفي اغېزو د علت له منځه وړل یا بدلول، تر څو ورته نورو منفي اغېزو سبب نه شي؛ او

24.2.3.3 د عملیاتي پالیسیو او لارښودونو بیاکتنه تر څو د دې ډول پېښو د بیا رامنځته کېدو چې د منفي اغېزو سبب کیږي، مخنیوی وشي؛ او

24.2.3.4 نور ورته اعمال چې ښایي په راتلونکي کې د ورته منفي اغېزو د مخنیوي لپاره اړین وګڼل شي.

24.2.4 بې له هغو نورو تعهداتو چې تړون لرونکي په دې تړون کې کړي دي، تړون لرونکی د ټولو هغو تعهداتو په ترسره کولو باندې مکلف دی چې په منظور شویو اکتشافي یا استخراجي پلانونو کې یې کړي دي.

## 25 چاپېریال ساتنه

### عمومي مکلفیتونه

25.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د چاپېریال ساتنې اړونده ټول نافذه قوانین رعایت کړي او په دې برخه کې هغه ژمنې چې له وزارت سره یې کړې دي، په بشپړ ډول اجرا کړي.

25.2 تړون لرونکی مکلف دی چې د خپلې ژمنې سره سم د اکتشاف په مرحله کې د چاپېریال ساتنې په برخه کې لږ تر لږه 5,955,000 امریکایي ډالر مصرف کړي.

### د چاپېریال ساتنې مدیریت پلان رعایت

25.3 تړون لرونکی منې چې دا د اکتشافي جواز او د اکتشاف اړوند د هر جواز یو شرط دی چې تړون لرونکی به هغه تعهدات پر ځای کوي چې د چاپېریال ساتنې د مدیریت منظور شوی پلان کې شامل دی، د استخراجي جواز ترلاسه کولو په صورت کې تړون لرونکی مکلف دی چې د چاپېریال ساتنې منظور شوي پلان پربنسټ شوي تعهدات پر ځای کړي.

### د چاپېریال ساتنې اجازه لیک

25.4 تړون لرونکی منې چې دا د اکتشافي جواز او د استخراج د بل هر جواز یو شرط دی چې تړون لرونکی به لاندې کارونه ترسره کوي:

25.4.1 د جواز له مخې په ساحه کې د کار تر پیل مخکې د چاپېریال ساتنې د اجازه لیک ترلاسه کول؛ او

25.4.2 د هغو نورو شرطونو رعایت چې د چاپېریال ساتنې اجازه لیک کې ذکر شوي دي.

## 26 کارګران

26.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د کار اړوند د اسلامي امارت ټول نافذه قوانین رعایت کړي.

## 27 روغتیا او خوندیتوب

### عمومي مکلفیتونه

27.1 تړون لرونکی مکلف دی چې په منرالي فعالیتونو کې د بوخت پرسونل د روغتیا او خوندیتوب په تړاو د اسلامي امارت اړونده نافذه قوانین او په پروپوزل کې کړې ژمنې رعایت کړي.

### د روغتیا او خوندیتوب پلان رعایت

27.2 تړون لرونکی منې چې دا د اکتشافي جواز او د استخراج جواز یو شرط دی چې تړون لرونکی به ټول هغه تعهدات چې د روغتیا او خوندیتوب په منظور شوي پلان کې ذکر شوي دي، رعایت کوي.

## 28 داخلي امنیت

### د داخلي امنیت د منظور شوي پلان رعایت

28.1 تړون لرونکی منې چې د اکتشافي یا استخراجي جواز په ساحه کې د کار تر پیل مخکې د داخلي امنیت پلان ترتیب او منظوري یې ترلاسه کړي.

28.2 تړون لرونکی مکلف دی چې د خپلې ژمنې سره سم د اکتشاف په مرحله کې د پروژې د داخلي امنیت په برخه کې 37,210,000 امریکایي ډالر مصرف کوي.

28.3 تړون لرونکی مکلف دی چې:

28.3.1 د داخلي امنیت منظور شوی پلان په خپل لګښت پلی کوي؛

Islamic Emirate of Af
د کانونو او پټرولیم وزارت
ریاست دفتر مقام
C.A.D

28.3.2 ټول هغه تعهدات او شرایط چې د داخلي امنیت منظور شوي پلان کې درج شوي، رعایت کوي؛ او

28.3.3 تر کومه حده چې د داخلي امنیت منظور شوی پلان او اړونده نافذه قوانین د هغې ایجاب کوي، نو:

28.3.3.1 تړون لرونکی کولای شي چې د کورني امنیت منظور شوي داخلي پلان سره سم د امنیتي پرسونل د استخدام په برخه کې د عامه ساتنې تصدي ( APPF ) سره تړون وکړي؛

**28.3.3.2** د عامه ساتنې تصدی د امنیتي خدماتو ټول لګښتونه په خپله تړون لرونکی ادا کړي.

د مسؤلیت حدود

28.4 په دې تړون کې له ذکر شویو مواردو سربېره، تړون لرونکی د دې تړون له مخې د عامه ساتنې تصدي د هیڅ هغه عمل چې د داخلي امنیت منظور شوي پلان یا هم د کوم بل اصل څخه سرغړونه وي، مسئولیت نه لري.

د امنیتي خطر ارزونه

28.5 تړون لرونکی مکلف دی چې څومره ژر چې شوني وي، د اکتشافي جواز تر انفاذ وروسته د جواز ساحې د امنیتي خطرونو د ارزونې لپاره پر شرایطو برابر ثالث شخص استخدام کړي او د امنیتي خطرونو په ارزونه کې باید د لاندې مواردو جامع ارزونه شامل وي:

28.5.1 امنیتي خطرونه، د تاوتریخوالي کچه، د شخړې تحلیل او د تجهیزاتو لېږد؛ او

28.5.2 د لاندې مواردو لپاره د امنیتي پرسونل شمېر اړین دی ترڅو:

28.5.2.1 د پروژې په موده کې، د جواز په ساحه کې امنیت وساتي؛ او

**28.5.2.2** د ټول پرسونل چې استخدام شوی یا په بل دول له پروژې سره په تړاو د تړون لرونکي په استازیتوب یا د هغه له خوا ګومارل شوي وي، د امنیت ساتنه.

د داخلي امنیت پلان منظوري

28.6 تړون لرونکی مکلف دی چې:

28.6.1 د ۲۸,۵ مادې سره سم د امنیتي خطر د ارزونې راپور چې د امنیتي خطر د ارزونې نتایجو جزییات پکې شامل وي، وزارت ته تسلیم کړي؛

28.6.2 د ۲۸,۵مادې سره سم څومره ژر چې شوني وي، د امنیتي خطرونو د ارزونې تر بشپړېدو وروسته د داخلي امنیت پیشنهادي پلان چې د تړون لرونکي له خوا له وزارت سره په مشوره د داوطلبی په جریان کې وړاندې شوی و، بیاکتنه کوي؛ او

28.6.3 د داخلي امنیت بیا کتل شوی پلان وزارت ته د منظورۍ لپاره وړاندې کړي.

28.7 امارت ژمنه کوي چې څومره ژر چې کېږي، د ۲۸,۶ مادې سره سم د داخلي امنیت پلان تر سپارلو وروسته بهړد داخلي امنیت بیا کتل شوی پلان چې وزارت ته د تایید لپاره د ۲۸,۶مادې مطابق استول شوی وي، هر څومره زر چې کېږي منظور کړي:

28.7.1 وزارت د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم د وړاندې شوي پلان ارزونه ترسره کوي؛ او

28.7.2 که چېرته وزارت:

28.7.2.1 د داخلي امنیت پلان منظوروي، نو له نافذه مقررې سره سم تړون لرونکي ته به په لیکلي دول (سره د هغو شرطونو چې پر تایید وضع شوي) د منظورۍ په اړه خبرتیا ورکوي؛

28.7.2.2 له نافذه مقرري سره سم په وراندي شوي پلان کي د تعديلاتو غوښتنه کوي او يا د وراندې شوي پلان په اړه نظر ورکوي، وزارت بايد ژر تر ژره په ليکلي ډول د دغه ډول تعديلاتو يا نظر په اړه ترون لرونکي ته خبر ورکړي.

28.8 که چېرې وزارت ترون لرونکي ته د ۲۸،۷،۲ مادې مطابق خبرتيا لېږي، نو :

28.8.1 ترون لرونکی بايد د داخلي امنيت وراندي شوی پلان تعديل کړي او د وزارت د نظر يا غوښتني مطابق تعديلات په کې ترسره کړي؛

28.8.2 ترون لرونکي بايد د داخلي امنيت پلان (په شمول د هغو تعديلاتو چې په۲۸،۹ ماده کي اشاره ورته شوي) د خبرتيا له تر لاسه کولو وروسته څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته تسليم کړي؛

28.8.3 د داخلي امنيت د وراندي شوي پلان له تر لاسه کولو وروسته چې ۲۸،۱۰ مادې مطابق وزارت ته سپارل شوی، امارت ژمنه کوي چې وزارت وراندي شوی پلان ژر تر ژره بيا ارزوي او په دې اړه ترون لرونکي ته د هغو پراونو مطابق چې په ۲۸،۱۱،۱ او ۲۸،۱۱،۲ ماده کي ذکر شوي، ليکلی خبر ورکوي؛ او

28.8.4 هغه پراوونه چې له ۲۸،۱۰ څخه تر ۲۸،۱۲مادو کي ورته اشاره شوي، تر هغي مودې پورې به تکرارېږي، تر څو چې وزارت له نافذه مقررې سره سم د داخلي امنيت اروند وراندي شوی پلان منظوروي.

**د داخلي امنيت د منظور شوي پلان عوض کول**

28.9 که چېرې د نافذه مقررې له مخې ارتيا وليدل شي، ترون لرونکی مکلف دی چې د داخلي امنيت منظور شوي پلان باندې بيا کتنه وکړي او هغه تازه کړي، د منظور شوي امنيتي پلان د عوض کولو لپاره به د داخلي امنيت نوی پېشنهادي پلان وراندي کوي.

28.10 ترون لرونکی مني چې د کانونو نافذه مقررې سره سم وزارت ته د داخلي امنيت د پيشنهادي پلان په وراندي کولو سره، نوموړی ترون لرونکی ممکن د داخلي امنيت د منظور شوي پلان د تعويض لپاره غوښتنه وکړي (که څه هم د پلان نوې تعديل شوې بڼه ۲۸،۹ مادې مطابق وي يا هم په بل ډول).

28.11 امارت ژمنه کوي چې څومره ژر چې شوني وي، د ۲۸،۸،۳مادې سره سم د داخلي امنيت پيشنهادي پلان تر وراندي کولو وروسته:

28.11.1 د کانونو نافذه مقررې سره سم د وراندې شوي پلان ارزونه ترسره کړي؛ او

28.11.2 که چېرته وزارت:

28.11.2.1 له نافذه مقررې سره سم د داخلي امنيت پلان منظوروي، نو ترون لرونکي ته به په ليکلي ډول (سره د هغو شرطونو چې پر تاييد وضع شوي) د منظورۍ په اړه خبرتيا ورکوي.

28.11.2.2 د کانونو نافذه مقررې مطابق په وراندي شوي پلان کي د تعديلاتو غوښتنه کوي او يا د وراندي شوي پلان په اړه نظر ورکوي، وزارت بايد ژر تر ژره په ليکلي ډول د دغه ډول تعديلاتو يا نظر په اړه ترون لرونکي ته خبر ورکړي.

28.12 که چېرې وزارت ترون لرونکي ته د ۲۸،۸،۳مادې مطابق خبرتيا لېږي، نو له ۲۸،۹ تر ۲۸،۱۲ مادې به د تطبيق وړ وي.

**د داخلي امنيت د منظور شوي پلان خپرول**

28.13 د شک د مخنيوي لپاره، د داخلي امنيت منظور شوی پلان به د وزارت لخوا په عام ډول د لاسرسي وړ نه وي.

## 29 د سیمه ییزو ګټو او د ټولنې د پراختیا پلان

### عمومي مکلفیتونه

29.1 ترون لرونکی مکلف دی چې په منرالي فعالیتونو کې د سیمه ییزو ګټو او د ټولنې د پراختیا په اړه په پروپوزل کې کړې ژمنې پر ځای کړي.

### د سیمه ییزې ګټې د پلان رعایت

29.2 ترون لرونکی مني چې دا د اکتشافي جواز او د استخراجي جواز یو شرط دی چې ترون لرونکی د محلي ګټې منظور شوي پلان کې ذکر شویو تعهداتو پر عملي کولو او رعایت مکلف دی.

### د ټولنې د پراختیا پیشنهادي پلان په اړه مشوره او د هغه ترتیبول

29.3 ترون لرونکی مکلف دی چې د ټولنې د پراختیا پیشنهادي پلان تر وړاندې کولو مخکې د کانونو نافذه قانون سره سم له وزارت او اغیزمنې ټولنې سره مشوره وکړي.

29.4 ترون لرونکی مکلف دی چې د ټولنې د پراختیا وړاندې شوی پلان وزارت ته تسلیم کړي.

### د ټولنې د پراختیا پلان رعایت

29.5 ترون لرونکی مني چې دا د استخراج د هر جواز یو شرط دی چې ترون لرونکی به د ټولنې د پراختیا منظور شوي پلان کې ذکر شوي تعهدات عملي کړي.

## 30 عامه کارونه

30.1 ترون لرونکی مکلف دی چې ټول هغه عامه کارونه چې د درېیم جدول په دویمه برخه کې ذکر شوي، په جدول کې له مهالویش سره سم په خپل لګښت پلان کړي، انکشاف ورکړي او ویې رغوي.

30.2 د ټولو عامه کارونو مالکیت چې د دغه ترون پر بنسټ د ترون لرونکي له خوا رغول کېږي، تر جوړېدو وروسته یې مالکیت امارت ته انتقالیږي.

## 31 د زېربنا جوړول

### عمومي مکلفیتونه

31.1 د ۳۱,۳ او ۳۱,۴ مادو په پام کې نیولو سره، ترون لرونکی مکلف دی چې د منرالي فعالیتونو لپاره ټوله اړینه زېربنا ورغوي، د هغې زېربنا په شمول چې د درېیم جدول په لومړۍ برخه کې ذکر شوې ده.

31.2 ترون لرونکی مکلف دی چې ټولې هغه زېربناوې چې د ترون ۳۱,۱ مادې پر اساس اړین دي، پلان کړي، پراختیا ورکړي او ویې رغوي، خو د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره:

31.2.1 د هغو اجازه لیکونو پر اساس، چې له ۳۱,۴ مادې او نورو اړونده نافذه قوانینو سره سم ورکول کېږي او

**31.2.2** تر هغه بریده چې یاد عمل له ۳۱,۲,۱ مادې، له منظور شوي اکتشافي پروګرام یا د کان کیندنې منظور شوي پروپوزل سره مغایرت و نه لري.

### له زېربنا څخه مشترکه استفاده

31.3 ترون لرونکی مکلف دی څو ټوله زېربنا په داسې ډول پلان او ورغوي چې په لاندې توګه د استفادې وړ وي:

31.3.1 لکه څرنګه چې په دې ترون او په کانونو نافذه قانون کې ذکر شوي، د نورو له خوا وکارول شي (د درېیم جواز لرونکي په شمول) ؛ او

Islamic Emirate of Afghanistan
وزارت معادن و پترولیم
ریاست دفتر مقام
C.A.D

31.3.2 په کومه سیمه کې چې موقعیت لري، هلته د تلپاتې تولنیزې او اقتصادي پراختیا سره مرسته وکړي.

31.4 د ۳۱,۱ مادې سربېره، ترون لرونکی اړ نه دی چې په لاندې مواردو کې زېربنا جوړه کړي:

31.4.1 په هغه صورت کې چې وزارت د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم د موجوده زېربنا د کاروني یا په مشترکه توګه د یادې زېربنا د کاروني اجازه ورکړي ؛ او

**31.4.2** په هغه صورت کې چې ترون لرونکی د زېربنا له مالک او یا ددې زېربنا له نورو شریکانو سره د منرالي فعالیتونو په مقصد د یادې زېربنا د کاروني په اړه موافقې ته رسېدلی وي.

**د زېربنا د کاروني اجازه**

31.5 ترون لرونکی مني چې دا د اکتشافي جواز یا استخراجي جواز یو شرط دی چې د زېربنا د رغاوني تر پیل مخکې باید د کانونو نافذه قانون او مقررې سره سم اجازه ترلاسه کړي.

**د زېربنا مصادره**

31.6 ترون لرونکي مني، که چېرې وزارت تشخیص کړي چې د جواز په ساحه کې رغول شوې زېربنا له منرالي فعالیتونو پرته د عامه استفادې لپاره ده، وزارت کولای شي هر وخت، د جواز د مودې تر پای ته رسېدو، له جواز څخه تر انصراف یا د جواز تر فسخ کېدو مخکې، ترون لرونکي ته خبر ورکړي چې د جواز مودې تر پای رسېدو، انصراف یا فسخ کېدو وروسته د زېربنا مالکیت امارت ته سپارل کېږي.

31.7 د شک د مخنیوي لپاره، که چېرې وزارت ترون لرونکي ته د ۳۱,۶ مادې مطابق خبر ورکوي، نو ترون لرونکی مکلف دی چې د خبرتیا د بحث ور زېربنا له منځه یونسي.

**32 لرغوني او فرهنګي آثار**

**عمومي مکلفیتونه**

32.1 که چېرې د منرالي فعالیتونو په جریان کې، ترون لرونکی لرغوني یا فرهنګي آثار یا هم ساحې کشف کړي، ترون لرونکی مکلف دی چې له نافذه قانون سره سم سملاسي:

32.1.1 د کانونو وزارت او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو ته خبر ورکړي؛ او

32.1.2 د لرغونو او فرهنګي آثارو یا ساحې په شاوخوا کې د منرالي فعالیتونه تر هغې ودروي ترڅو چې وزارت بیا اجازه نه وي ورکړې، چې بیا ځلې اجازه شایي د نورو شرایطو د رعایت مستلزم وي.

**د وزارت له لورې د منظورې ورکول یا ردول**

32.2 امارت ژمنه کوي چې:

32.2.1 د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د کانونو وزارت ته د لرغونو او فرهنګي آثارو یا ساحې په اړه راپور او د نورو هغو اړینو شرطونو په اړه معلومات چې د کانونو نافذه قانون له مخې چې ترون لرونکی یې پر رعایت مکلف دی، برابروي، دغه کړنه د ترون د ۳۱,۱,۱ مادې په پام کې نیولو سره د ترون لرونکي له خوا د خبرتیا تر استولو وروسته د ۳ میاشتو په موده کې ترسره کېږي.

32.2.2 وزارت، څومره ژر چې شوني وي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه د اړونده راپور له تر لاسه کولو وروسته ترون لرونکي ته خبرتیا ورکوي او دغه خبرتیا باید تایید کړي چې:

32.2.2.1 آیا وزارت ترون لرونکي ته د لرغونو او فرهنګي آثارو یا د ساحې شاوخوا سیمه کې د کار د بیا پیل اجازه ورکوي؛ او

32.2.2.2 که چېرې وزارت:

32.2.2.2.1 د کار اجازه ورکوي، نو ترون لرونکی د نویو اضافي شرطونو پر رعایت مکلف دی، یا

32.2.2.2.2 که وزارت د کار اجازه نه ورکوي، د لرغونو یا فرهنګي آثارو یا ساحي څخه په واټن کې، په کومه کې چې باید منرالي فعالیتونه تر سره نه شي (کوم چې ممکن، که د پلي کېدو وړ وي، د ثبت شوي ساحي حدودو ته په کتو سره دغه لرغوني آثار یا ساحه باید په داسي دول مشخصه شي په کوم دول چې د لرغونو آثارو د ساتني او بیارغوني له نافذه قوانینو سره سم مشخصه شوې ده.

32.3 که چېرې وزارت د لرغونو او فرهنګي آثارو یا ساحي په شاوخوا سیمه کې د کار اجازه ورکوي، نو ترون لرونکی د هغو اضافي شرطونو پر رعایت مکلف دی چې د وزارت له خوا پرې وضع شوې وي.

32.4 که چېرې وزارت د منرالي فعالیتونو د بیا پیل لپاره د لرغونو او فرهنګي آثارو یا ساحي په شاوخوا کې د کار اجازه نه ورکوي، ترون لرونکی مکلف دی، په هغې ساحه کې چې د وزارت له خوا ترون لرونکي ته یې په اړه خبر ورکړل شوی، منرالي فعالیتونه ترسره نه کړي، مګر دا چې وزارت د یادو منرالي فعالیتونو د کار د بیا پیل اجازه وکړي.

**33 د نهایي محصول خرڅلاو او صادرات**

**بازارموندنه، خرڅلاو او صادرات په عمومي دول**

33.1 د دغه ترون او د نافذه قوانینو په پام کې نیولو سره، ترون لرونکی کولای شي چې:

33.1.1 بازار موندنه وکړي، نهایي محصول وپلوري او یا یې صادر کړي، څه دول چې یې مناسبه ګڼي؛

33.1.2 د نهایي محصول لپاره د بازار موندني، خرڅلاو او یا په بل دول د نهایي محصول د صادراتو د مطلق مدیریت او کنترول اختیار لري؛

33.1.3 ټول هغه خطرونه چې د نهایي محصول د بازار موندني، پلور او یا په بو دول د محصول د وراندي کولو یا صادراتو سره تړلي (د هغو خطرونو په ګدون چې د پیشکي پلور سره تړلي دي) پر خپل غاړه واخلي.

**د محصول پلور**

33.2 ترون لرونکی مکلف دی چې ټول هغه محصولات چې د ترون لرونکي له خوا پلورل یا په بل دول وراندي کېږي (له ساختماني موادو پرته)، د لاندي مواردو په پام کې نیولو سره خرڅ یا وراندي کړي:

33.2.1 د کاروبار د نړیوالو منل شویو تجربو مطابق چې د امارت له اړونده نافذه قوانینو سره په ټکر کې نه وي؛ آو

**33.2.2** د هغو شرایطو مطابق (د تادیي د شرایطو په ګدون) کوم چې له تجارتي پلوه معقول وي او د هغو شرایطو په پرتله د ترون لرونکي په زیان نه اوسي کوم چې ښایي تر عین شرایطو لاندي په ورته معامله کې د بل دریم اړخ له لوري پرې موافقه کېږي او همدارنګه د نړیوال بازار بدلېدونکي شرایط به په پام کې نیسي.

**د نهایي محصول صادرول**

33.3 ترون لرونکي مني چې:

33.3.1 ترون لرونکی نه شي کولای چې د وزارت له اجازې پرته خپل کوم محصول له افغانستان څخه بهر ته صادر کړي؛ او

33.3.2 مقیده منرالونه باید و نه کارول یا هم صادر نه شي، مګر دا چې د مقیده منرالونو تګلاري ددي کار اجازه ورکړې وي.

33.4 امارت ژمنه کوي چې ارونده اداري به ترون لرونکي ته د نهايي محصول د صادرولو په مقصد د هر ډول اړين جواز د ورکولو پروسه چټکوي، تر څو د هغه په مټ ترون لرونکی وکولای شي چې څرګنده کړي چې د محصول منبع هغه منرالونه دي چې ترون لرونکي د جواز له ساحې څخه استخراج کړي دي.

## اوومه برخه: راپور ورکونه، د اسنادو ساتل او تفتيش

### 34 راپور ورکونه

#### راپور ورکونه په عمومي ډول

34.1 د ۳۴ مادې د حکمونو له محدودولو پرته، ترون لرونکی مکلف دی چې:

34.1.1 وزارت يا بلې ارونده اداري ته ټول راپورونه، سوابق، صورت حسابونه او نور اسناد چې د دغه ترون يا د نافذه قوانينو سره سم غوښتل کېږي، تسليموي؛

34.1.2 دا ډاډ رامنځته کوي چې ټول هغه اسناد چې د ترون لرونکي له خوا يا د هغه په استازيتوب کومې اداري ته وړاندې کېږي، سم، بشپړ او صحيح دي او د کومې موضوع په اړه چې ياد اسناد چمتو شوي دي، ګمراه کوونکي نه دي.

34.1.3 د ۳۴،۱،۲ مادې له محدودولو پرته، ترون لرونکی يا د هغه استازی هغه معلوماتي مواد له هغو اسنادو څخه چې ترون لرونکی يا د هغه استازی يې کومې اداري ته سپاري، نه حذفوي او نه يې پټوي.

#### الزامي راپور ورکونه

34.2 ترون لرونکی مکلف دی چې:

34.2.1 د کانونو نافذه قانون کې له ذکر شوې مودې سره سم د کال په پای کې وزارت ته تخنيکي راپور وړاندې کړي؛

34.2.2 د کانونو نافذه قانون کې له ذکر شوې مودې سره سم وزارت او د چاپېريال ساتنې ملي اداري ته د چاپېريال ساتنې راپور وړاندې کړي؛

34.2.3 د کانونو نافذه قانون کې له ذکر شوې مودې سره سم وزارت ته د اکتشافي جواز په اړه د اکتشاف راپور وړاندې کړي؛

34.2.4 د کانونو نافذه قانون کې له ذکر شوې مودې سره سم وزارت ته د استخراجي جواز په اړه د حق الامتياز (رويالټي) راپور وړاندې کړي؛ او

34.2.5 د کانونو نافذه قانون کې له ذکر شوې مودې سره سم د استخراجي جواز په اړه د تفتيش شويو حسابونو راپور وړاندې کړي.

#### د راپورونو وړاندې کول

34.3 ټول راپورونه، سوابق، صورت حسابونه او نور سندونه چې وزارت يا د چاپېريال ساتنې ملي اداره يې غواړي، په هغه ډول بايد وړاندې شي چې د کانونو نافذه کې ذکر شوی ده.

### 35 د اسنادو ساتل

#### د اسنادو ساتنه په عمومي ډول

35.1 د ۳۵ مادې د حکمونو له محدودولو پرته، ترون لرونکی مکلف دی چې ټول تخنيکي، مالي، تجارتي او نور اسناد (ريکارډونه) او حسابونه وساتي.

**د منرالي فعالیتونو اسناد**

35.2 تړون لړونکی مکلف دی چې د محاسبې د معیارونو مطابق د منرالي فعالیتونو په تړاو د حسابونو هر اړخیز، دقیق او تازه اسناد (اپډېټ ریکاردونه) وساتي، د لاندې مواردو په شمول:

35.2.1 هغه اسناد او حسابونه چې له لاندې مواردو سره تړاو ولري:

35.2.1.1 عواید او لګښتونه؛

35.2.1.2 د نهایي محصول تولیدول؛ او

35.2.1.3 خرڅلاو یا د نهایي محصول کارول؛ او

35.2.2 د کان کیندنې ټول معلومات.

35.3 د ۳۵,۲ مادې په پام کې نیولو سره، اړتیا ده چې ټول حسابونه او اسناد په فزیکي دول د افغانستان دننه وساتل شي.

35.4 تړون لړونکی مني چې د کانونو نافذه قانون سره سم ټول هغه اسناد چې:

35.4.1 د جواز مربوط دي د جواز د اعتبار د مودې له پای ته رسېدو، له انصراف یا فسخ څخه وروسته حداقل د لسو (۱۰) کلونو لپاره وساتي؛ او

35.4.2 دغه تړون د فسخ له نېټې څخه وروسته باید د لسو (۱۰) کلونو لپاره وساتل شي او ۳۶ مادې له مخې به هر وخت د تفتیش لپاره په اړونده موده کې د لاسرسي وړ وي.

**پولي واحد**

35.5 ټول محاسبوي اسناد او سوابق به په ۲۱,۲ ماده کې د ذکر شوي پولي واحد له مخې ساتل کېږي.

## 36 تفتیش

**د تفتیش مامورین**

36.1 تړون لړونکی مني چې:

36.1.1 وزارت به د کانونو نافذه قانون سره سم د جواز د هرې ساحې لپاره د تفتیش یو مامور ټاکي؛ او

36.1.2 د تفتیش مامورین کولای شي چې:

36.1.2.1 د جواز ساحه تفتیش کړي (د ټولو هغو منرالي فعالیتونو په شمول چې د جواز ساحه کې ترسره کېږي.)؛

36.1.2.2 له یو کس څخه وغواړي چې اړین معلومات ورته برابر کړي؛ یا

36.1.2.3 له یو کس څخه وغواړي چې د یوې اړوندې موضوع په اړه پلټنو ته حاضر شي.

36.2 تړون لړونکی مکلف دی او دا داد باید رامنځته کړي چې د هغه استازی به د تفتیش مامور ته ټولې هغه اسانتیاوې برابرې او غوښتنو ته به یې رسیدګي کېږي چې کله غوارې د کانونو نافذه قانون سره سم خپل واکونه اعمال کړي. په شمول د:

36.2.1 ټولو هغو اسنادو برابرول او وراندې کول چې د تفتیش مامور ورته اړتیا لري (د شک د مخنیوي لپاره، د ټولو هغو اسنادو او حسابونو په شمول چې د ۳۵ مادې پربنسټ د تړون لړونکي له خوا یا د هغه په استازیتوب ساتل شوی وي.)؛ او

36.2.2 په هغه صورت کې چې د تفتیش مامور ورته اړتیا ولري، د یوې موضوع په اړه پلټنو ته د اسنادو وړاندې کول او حاضرېدل.

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
ریاست دفتر مقام

C.A.D

36.3 د شک د مخنیوي لپاره، ددي تړون ۳۶٫۲ مادي حکمونه د کانونو نافذه قانون کي راغلي حکمونه نه شي محدودولی.

**اتمه برخه: نیابت او ضمانتونه**

**37 د تړون لرونکي نیابت او ضمانتونه**

**د تړون لرونکي ضمانتونه**

37.1 تړون لرونکی امارت ته نیابت او تضمین کوي چې:

37.1.1 تړون لرونکی په قانوني توګه ثبت شوی حقوقي شخصیت دی او د هغه ځای چې ثبت دی، د نافذه قوانینو پربنسټ فعالیت کوي.

37.1.2 تړون لرونکي ټول هغه اړین اقدامات ترسره کړي دي کوم چې هغه ته اجازه ورکوي چې په تړون کي مندرج تعهدات ومني او هغه سرته ورسوي؛

37.1.3 تړون لرونکی واک لري چې د کوم بل شخص له رضایت پرته، په دي تړون کي مندرج تعهدات ومني او هغه سرته ورسوي.

37.1.4 دغه تړون د تړون لرونکي لپاره حقوقي، معتبر او الزامي مکلفیتونه/تعهدات ایجادوي چې د تړون د شرایطو په رڼا کي پر نوموړي د تطبیق وړ دي.

37.1.5 د تړون لرونکي له خوا ددي تړون د مکلفیتونو یا تعهداتو اجرا او سر ته رسول د تړون لرونکي د اصلي اسنادو، نافذه قانون، د یوې وجیبې یا نورو هغو اسنادو چې تړون لرونکی یې پر رعایت ملزم دی، د نقض سبب نه شي کیدلی؛

37.1.6 تړون لرونکی د کومي پیښي له امله له ضرر سره نه دی مخ؛

37.1.7 تړون لرونکی:

37.1.7.1 د کومي دعوا طرف نه دی؛ یا

37.1.7.2 د کومي اداري یا حکومتي او نیمه حکومتي اداري، اداري، مالي یا قضایي اداري، دیپارتمنت، کمېسیون، د خپلواکي اداري، محکمي او یاکومي بلي داسي یوې اداري له لوري چې یادي اداري د امارت د قوانینو پر اساس تأسیس شوي اوسي، حکم، قرار یا فرمان نه وي صادر شوی کوم چې ښایي یاد اقدامات د تړون لرونکي توانایي په مادي توګه داسي زیانمنه کړي چې په دې تړون کي د مندرجه تعهداتو او مکلفیتونو د سرته رسولو جوګه نه وي؛

37.1.8 تر کومه چې تړون لرونکی خبر دی، د تړون لرونکي پر وړاندي کومه دعوا، الزام، قضایي قرار، جکم یا په ۳۷٫۱٫۷ ماده کي ذکر شوي هېڅ راز اقدامات په جریان کي نه دي، یا یې هم د پیښېدو خطر نشته او نه هم دغه ډول اقدامات محتمل یا د اټکل وړ دي.

37.1.9 نه تړون لرونکی او نه هم د هغه کوم اړونده لوری د کومي اداري یا حکومتي او نیمه حکومتي اداري، اداري، مالي یا قضایي اداري، دیپارتمنت، کمېسیون، د خپلواکي اداري، محکمي او یاکومي بلي داسي یوې اداري له خوا چې یادي اداري د کوم امارت د قوانینو پر اساس تأسیس شوي اوسي، د لاندي مواردو په تړاو د کوم قلمرو د قوانینو یا د کوم الزامي سند د فاحش نقض له امله د محکمي له قرار، الزام یا حکم سره مخ نه دی پیژندل شوی:

37.1.9.1 د منرالونو د استخراج او پروسس لپاره د اکتشاف په برخه کي؛

37.1.9.2 د چاپېریال ساتني په برخه کي ؛

37.1.9.3 د استخدام شوي پرسونل د روغتیا او خوندیتوب په برخه کي؛ یا

37.1.9.4 د اختلاس او اداري فساد په برخه کې؛

37.1.10 د کانونو نافذه قانون يا نورو نافذه قوانينو سره سم نه ترون لرونکي، نه د هغه کوم استازي او نه هم کوم بل شخص چې د ترون لرونکي يا د هغه د اړونده طرف په استازيتوب عمل کوي، کوم امارتي مقام ته د يوه کار د ترسره کولو په نيت د ناوره نفوذ له لارې د کومې تاديې، منفعت يا امتياز وړانديز شوی، يا وعده ورسره شوې يا هم ورته ورکړل شوي وي؛

37.1.11 ترون لرونکی له منرالي فعاليتونو سره آشنا دی او دا ظرفيت، تجربه او منابع لري چې ددې ترون او ټولو نافذه قوانينو سره سم منرالي فعاليتونه ترسره کړي؛

37.1.12 ترون لرونکی داسې يو شخص نه دی چې د کانونو نافذه قانون په پام کې نيولو سره، د کان کيندنې ترون د عقد يا جواز ترلاسه کولو اهليت ونه لري؛

37.1.13 ټول هغه اسناد (د داوطلبۍ اسنادو او نورو هغو اسنادو په شمول چې د اکتشافي جواز په تړاو وړاندې شوي وي) چې د ترون لرونکي يا د هغه په استازيتوب کومې ادارې ته وړاندې شوي دي، واقعي، بشپړ او سم دي او ګمراه کوونکي نه دي؛

37.1.14 د ترون لرونکي يا د هغه د استازيتوب يوې ادارې ته په وړاندې شوي کوم سند کې معلومات چې د ترون لرونکي يا د هغه د استازي په اړه دي، نه دي کتمان يا پټ شوي يا هم نه دي حذف شوي ؛

37.1.15 د ترون لرونکي يا د هغه په استازيتوب د بل شخص له خوا کومې ادارې ته د کوم سند وړاندې کول يا هم د کانونو نافذه قانون او مقررې له مخې د هغه سند کارول، نشر يا وېش د فکري مالکيت د هيڅ حق د نقض سبب نه شي کېدای؛ او

37.1.16 ترون لرونکی له اړونده ادارو څخه ټولې منظورۍ، موافقې او جوازونه ترلاسه کړي او ټول حق الامتيازونه (رويالټي ګانې) او د جواز فيسونه يې تاديه کړي او نور هغه اړين ملاحظات چې يوې ادارې يا شخص ته د اسنادو د سپارلو، کارونې، نشر يا وېش په اړه چې د فکري مالکيت د حقونو مسايل پکې شامل وي، په پام کې نيول شوي دي.

دقت

37.2 مګر دا چې په ۳۷,۱ ماده کې بل ډول څرګنده شوې وي، ترون لرونکی د امارت په وړاندې نيابت او ضمانت کوي چې د ترون هر ضمانت:

37.2.1 واقعي، بشپړ او سم دی او د انفاذ تر نېټې پورې ګمراه کوونکی نه دی؛ او

37.2.2 دا به واقعي، بشپړ او سم وي او د ترون په ټوله موده کې به ګمراه کوونکی نه وي.

جلا تضمينونه

37.3 د ترون لرونکي هر تضمين ته به د يوه جلا نيابت او تضمين په نظر کتل کېږي. د هر بيان وړاندې شوی تفسير بل بيان ته د ارجاع يا استنتاج په وسيله نه شي محدودېدای.

د ترون د عقد انګېزه

37.4 ترون لرونکی مني چې:

37.4.1 د ددغه ترون تضمينونه يې په دې نيت ورکړي، تر څو امارت د ترون عقد ته وهڅوي؛ او

37.4.2 امارت په دغه ترون کې د ترون لرونکي له خوا په وړاندې شويو تضمينونو باندې په اتکا سره ترون عقد کړی دی.

د ترون لرونکي د تضمينونو مبنی

37.5 د ترون لرونکي هر تضمين د هغه د پوهي، معلوماتو او باور په اساس ورکړل شوی، او په دي اساس ورکړل شوی چي د ترون لرونکي تضمين واقعي، بشپړ، سم او گمراه کوونکی نه دی، د ترون لرونکي له استازو څخه تولي ارېني پوښتني شوي دي کوم چي له هغوی څخه د ترون لرونکي د تضمين مرتبط د اړونده مسایلو په اړه د معلوماتو توقع کېده.

غرامت

37.6 د دغه ترون ۴۲ مادي د حکمونو په پام کي نيولو سره، ترون لرونکی مکلف دی چي امارت ته د تولي هغي خساري جبران ورکړي کوم چي امارت ته د ترون لرونکي د غير واقعي، نا مکمل، ناسم يا گمراه کوونکي تضمين له امله اوښتي ده.

## 38 د امارت نيابت او تضمينونه

38.1 امارت د ترون لرونکي په وړاندي نيابت او ضمانت کوي چي:

38.1.1 د انفاذ له نېټي سره سم، دغه ترون به:

38.1.1.1 تولي ارېني منظوری (تائيدي) يي ترلاسه کړي دي ؛ او

38.1.1.2 د امارت حقوقي، معتبر او الزامي تعهدات جوړوي چي د هغه د شرايطو په رڼا کي پري د تطبيق وړ دي؛ او

38.1.2 د جواز ساحي د تولي يا يوي برخي جواز يي له دي ترون لرونکي پرته بل شخص ته نه دی ورکړی (لکه څرنګه چي د کانونو نافذه قانون کي راغلي وي.)

دقت

38.2 مگر دا چي په ۳۸،۱ مادي کي په بل ډول څرګنده شوي وي، امارت د ترون لرونکي په وړاندي نيابت او تضمين کوي چي هر تضمين:

38.2.1 واقعي، بشپړ، سم او د اجرا تر نېټي پوري گمراه کوونکی نه دی؛ او

38.2.2 واقعي، بشپړ، سم به وي او د دغه ترون په موده کي به گمراه کوونکی نه وي.

جلا تضمينونه:

38.3 د امارت هر تضمين ته د جلا نيابت او تضمين په سترګه کتل کېږي. د هر بيان وړاندي شوی تفسير بل بيان ته د ارجاع يا استنتاج په وسيله نه شي محدودېدای.

د ترون د عقد انگېزه

38.4 امارت مني چي:

38.4.1 ددغه ترون تضمينونه يي په دي نيت ورکړي او وړاندي کړي، تر څو ترون لرونکی د ترون عقد ته وهڅوي؛ او

38.4.2 ترون لرونکي په دغه ترون کي د امارت له خوا په وړاندي شويو تضمينونو باندي په اتکا سره ترون عقد کړی دی.

د تضمينونو حدود

38.5 امارت د ترون لرونکي د ګټي لپاره کوم نيابت او تضمين نه کوي، مگر استثناء پر هغو تضمينونو او نيابتونو چي نافذه قوانين يي د پلي کېدو جواز ورکوي.

38.6 ترون لرونکی مني چي کله دغه ترون عقد کوي نو:

38.6.1 د امارت پر تضمینونو او پر خپلو پلټنو، خبرنو، مهارتونو، قضاوت، نظریاتو او مشورې باندې ځانګړې اتکا کوي؛ او

38.6.2 له هغو تضمینونو پرته چې امارت وړاندې کړي، پر نورو هغو بیانونو، ژمنو، هڅونو، نظریاتو، مشورو، نیابت او تضمینونو چې په شفاهي یا لیکلي بڼه د امارت یا د هغه په استازیتوب وړاندې شوي یا ورکړل شوي، اتکا نه کوي.

### غرامت

38.7 د ۳۸،۲ مادې په پام کې نیولو سره، امارت مکلف دی چې تړون لرونکي ته د ټولې هغې خسارې غرامت ورکړي کوم چې تړون لرونکي ته د امارت د غیر واقعي، نا مکمل، ناسم یا ګمراه کوونکي تضمین له امله اوښتی دی.

## نهمه برخه: مالي داړ، متابعت او اجراآت

### 39 د لاربښودونو رعایت

39.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د یوې د اداري له خوا د نافذه قوانینو سره سم هر ډول هغه لیکلي لاربښودونه رعایت کړي کوم چې تړون لرونکی ار کوي چې د هر ډول فاحش نقض د مخنیوي لپاره لاس په کار شي یا هم د لاندې مواردو په نتیجه کې چې اداره یې تشخیص کړي چې له امله یې نقض رامنځته شوی:

39.1.1 د دغه تړون د هر شرط؛

39.1.2 د کانونو نافذ قانون یا مقرره او یا کوم بل اړونده نافذ قانون؛ یا

39.1.3 د جواز هر شرط،

هغه ضرب الاجل چې په دغه ډول لاربښودونو کې مشخص شوی وي یا هم که چیرې په لاربښودونو کې ضرب الاجل نه وي مشخص شوی، د هغې د صدور نېټه په پام کې نیول کیږي.

39.2 که چیرې تړون لرونکی د کومې اداري د یوه لیکلي لاربښود په تطبیق کې چې ددې تړون په ۴۱/۱ ماده کې یې یادونه شوې، نو:

39.2.1 امارت کولای شي چې وزارت یا نورې اړونده اداري وهڅوي چې له تړون لرونکي سره له مشورې پرته د صادر شوي لاربښود د تطبیق لپاره ټول اړین ګامونه اوچت کړي؛

39.2.2 تړون لرونکی مکلف دی چې اړونده اداري ته ټولې هغه اسانتیاوې چې د اداري له لوري غوښتل کیږي برابرې کړي، تر څو اړونده اداره اړین ګامونه واخلي او لاربښودونه پلي کړي؛ او

39.2.3 تړون لرونکی مکلف دی چې د اړونده اداري له لوري تر لیکلي غوښتنې وروسته ټول هغه لګښتونه او مصارف د ۲۰ کاري ورځو په موده کې تادیه کړي چې د یو لاربښود د تطبیق لپاره د اړینو ګامونو د اخیستلو په بدل کې یې کړي دي.

### 40 د اجرا ضمانتونه

#### د اجراء ضمانت شرایط

40.1 د ۳۸،۱ یا ۵،۷ بندونو له محدودولو پرته، تړون لرونکی مکلف دی چې د لاندې شرطونو له پوره کېدو مخکې وزارت ته د اجرا ضمانت وړاندې کړي:

40.1.1 د اکتشاف منظور شوي پروګرام کې د ذکر شویو ژمنو لپاره د ضمانت په توګه د اکتشافي جواز صدور؛ او

40.1.2 د کان کیندني منظور شوي پروپوزل کې د ذکر شویو ژمنو لپاره د ضمانت په توګه د استخراجي جواز صدور؛ او

40.2 مګر دا چې د کابینې له لوري په بل ډول تاکل شوي وي، د جواز په اړه د اړتیا وړ فعالیت ضمانت مقدار به د اقتصادي کمېسیون لخوا د کانونو نافذه قانون او مقرري سره سم تاکل کیږي او د هغو له مخې به محاسبه کیږي.

40.3 د اجرا ضمانت به په نقدي توګه د وزارت بانکي حساب ته سپاري.

**د حسن اجرا ضمانت په اړه پرېکړه**

40.4 ترون لرونکی مني، که چېرې د کانونو نافذه قانون سره سم ترون لرونکی د هغو ژمنو په ترسره کولو کې پاتې راشي، چې د اکتشاف په یوه منظور شوي پلان یا د کان کیندنې په منظور شوي پروپوزل کې وړاندې شوې دي، وزارت حق لري چې د حسن اجرا ضمانت چې د اکتشاف له منظور شوي پلان یا د کان کیندنې له منظور شوي پروپوزل (هر یو چې د اجرا وړ وي) سره یو ځای وړاندې شوی، په اړه یې لازمه پرېکړه وکړي.

**دحسن اجرا ضمانت بېرته سپارل**

40.5 د ۴۰،۴ مادې مطابق په هغه صورت کې د اجرا ضمانت په اړه پرېکړه نه وي شوې، د ترون د ۴۷,۷ مادې په پام کې نیولو سره د اجرا ضمانت د دې ترون تر پای ته رسېدو وروسته بېرته ترون لرونکي ته بېرته وسپارل شي.

## 41 د چاپېریال ساتنې ضمانتونه

**د چاپېریال ساتنې تضمین شرایط**

41.1 ترون لرونکی نه شي کولای چې د جواز ساحه کې کار پیل کړي، تر څو چې یې د چاپېریال ساتنې د مدیریت منظور شوي پلان کې د کړو ژمنو لپاره وزارت ته د تضمین په توګه د چاپېریال ساتنې ضمانت نه وي وړاندې کړی.

41.2 د چاپېریال ساتنې د تضمین مقدار چې د جواز په بدل کې غوښتل کیږي، د وزارت له خوا د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره تاکل کیږي:

41.2.1 د کانونو نافذه مقرره:

41.2.2 د چاپېریال ساتنې مدیریت منظور شوی پلان؛ او

41.2.3 د چاپېریال ساتنې ملي اداري سره په مشوره.

41.3 د چاپېریال ساتنې د تضمین بڼه به د نافذه مقررې له مخې وټاکل شي.

**د چاپېریال پر تضمین بیاکتنه**

41.4 ترون لرونکی مکلف دی چې:

41.4.1 د نافذه مقررې سره سم هر کال د چاپېریال ساتنې د تضمین مقدار باندې بیا کتنه وکړي؛ او

**41.4.2** بنايي مکلف کړای شي چې د نافذه مقررې په رڼا کې د چاپېریال ساتنې تضمین تعدیل شوې بڼه وړاندې کړي.

**د چاپېریال ساتنې د تضمین په اړه پرېکړه**

41.5 ترون لرونکی مني چې د کانونو له نافذه قانون سره سم که چېرې نوموړی د چاپېریال ساتنې د مدیریت منظور شوي پلان کې د ذکر شویو ژمنو په پلي کولو کې پاتې راشي، نو وزارت کولای شي چې:

41.5.1 د چاپېریال ساتني د تضمین په اړه پرېکړه وکړي؛ او

41.5.2 بدیل اقدامات تر لاس لاندې ونیسي چې د دې کار لګښت به د پور په توګه د تړون لرونکي له خوا ورکول کېږي.

**د چاپېریال ساتنې تضمین بېرته سپارل**

41.6 تر هغه بریده چې ۴۱,۵ مادې ته په پام سره د تضمین په اړه پرېکړه نه وي شوې، د دې تړون له ۴۶,۷ مادې سره سم د چاپېریال ساتنې هر تضمین به د دې تړون تر فسخ وروسته بېرته تړون لرونکي ته مسترد کېږي.

## 42 غرامت

**د تړون لرونکي غرامت**

42.1 د ۴۳ مادې په پام کې نیولو سره، تړون لرونکی مکلف دی چې امارت او د هغه استازو ته د ټولې هغې خسارې غرامت ورکړي چې ددې تړون د نقض له امله ورته اوښتې وي، خو له هغه حالت پرته چې دغه خساره په خپله د امارت له خوا د نافذه قوانینو د نقض یا نه رعایت په نتیجه کې ورته اوښتې وي.

**د امارت غرامت**

42.2 د ۴۳ مادې په پام کې نیولو سره، امارت مکلف دی چې تړون لرونکی او د هغه استازې د ټولې هغې خسارې په بدل کې چې ددې تړون یا د نافذه قوانینو د نقض یا نه رعایت له امله ورته اوښتې ده، جبران کړي، خو له هغه حالت پرته چې دغه خساره په خپله د تړون لرونکي له خوا ددې تړون د نقض په پایله کې رامنځته شوې وي.

**د غرامتونو ګټه**

42.3 تړون لرونکی او امارت دواړه مني او موافقه کوي چې ددې تړون د ۴۲,۱ او ۴۲,۲ مادې پر بنسټ د دواړو لورو ذکر شوي تعهدات د دواړو لورو د استازو په ګټه وراندې شوي او د هغوی له لوري د تطبیق وړ دي، که څه هم بنایي هغوی ددې تړون طرف نه وي.

## 43 د مسئولیت حدود

43.1 په دغه تړون کې سربېره پر نورو مواردو، د یوه لوري مسئولیت د بل لوري یا د هغه د استازي پر وړاندې تر واقعي ثابت شوي تاوان پورې محدود دی او لومړی ذکر شوی لوری، په هېڅ شرایطو کې د نامستقیم تاوان لپاره مسولیت نه لري.

## 44 تقصیر او فسخ

**د تقصیر موارد**

44.1 د دغه تړون د موخو په رڼا کې د تړون لرونکي په اړه لاندې حالات د تقصیر موارد ګڼل کېږي:

44.1.1 کله چې تړون لرونکی **د اجرا ضمانت** په وړاندې کولو کې په هغه بڼه چې د تړون په ۴۰ ماده کې ذکر شوې، پاتې راشي:

44.1.1.1 د ۴,۱ مادې پربنسټ په منظور شوي اکتشافي پروګرام کې شوې ژمنې د ضمانت په توګه؛یا

44.1.1.2 د ۵,۷ مادې سره په مطابقت کې د کان کیندنې منظور شوي پروپوزل کې شوې ژمنې د ضمانت په توګه؛

44.1.2 **د جواز لغوه کول:** هغه جواز چې ترون لرونکی یې لري او د کانونو د نافذه قانون مطابق لغوه کېږي؛

44.1.3 **د جواز ځنډول:** ټول هغه جوازونه چې د دغه ترون پر اساس ورکړل شوي وي ، یا

44.1.3.1 موده یې پوره شوې وي؛

44.1.3.2 د کانونو د نافذه قانون سره سم له ټولې یا یوې برخې څخه منصرف شوی وي؛ یا

44.1.3.3 د نافذه قانون مطابق (د ۴۴,۱,۲ بند له محدودلو پرته) فسخ شوی وي؛

44.1.4 **اهلیت:** کله چې ترون لرونکی د کانونو د نافذه قانون مطابق د جواز کاروني اهلیت له لاسه ورکړي؛

44.1.5 **د تعلیق له خبرتیا څخه سرغړونه:** که چېرې ترون لرونکی د جواز د ځنډېدو له رسمي خبرتیا څخه وروسته چې د کانونو نافذه قانون له مخې د وزارت له لوري خپرېږي، بیا هم د جواز په ساحه کې منرالي فعالیتونه ترسره کوي، دغه عمل د تعلیق خبرتیا څخه سرغړونه ګڼل کېږي؛

44.1.6 **د لاربښووني نه رعایت:** کله چې ترون لرونکی د وزارت له خوا ددې ترون د ۳۹,۱ مادې مطابق د یوې صادرې شوې لاربښوونې په متابعت کې پاتې راځي؛

44.1.7 **د حکمیت د قرار نه رعایت:** کله چې د ترون د ۵۵ مادې له مخې ترون لرونکی د حکمیت قرار الزامي ونه ګڼي او د هغې په رعایت کې پاتې راشي؛

44.1.8 **ناخوښه پیښه:** ترون لرونکی د ناخوښې پېښې تابع دی؛

44.1.9 **په کنټرول کې بدلون:** د ۴۹ مادې په پام کې نیولو سره د ترون لرونکي له خوا د تغیراتو د بدلون لپاره غوښتنه رد کېږي او د بدلون کنټرول رامنځ ته کېږي؛

44.1.10 **د تضمین نقض:** کله چې ترون لرونکی خپل یو تضمین نقض کړي؛

44.1.11 **په تادیاتو کې پاتې راتلل:** کله چې ترون لرونکی ددې ترون، د کانونو نافذه قانون یا مقررې پربنسټ د ځمکې د سطحې د کرایې، فیس، رویالټي یا کوم بل مبلغ په تادیه کولو کې پاتې راشي او دغه مبلغ پیسې د تادیې تر نېټې وروسته د ۲۰ کاري ورځو په جریان کې تادیه نه شي، یا

44.1.12 **فاحش نقض:** کله چې ترون لرونکی د لاندې مواردو د فاحش نقض مرتکب شي:

44.1.12.1 ددې ترون د شرطونو د یو شرط نقض (له هغه شرایطو پرته چې ترون لرونکی د ځمکې د سطحې کرایې، فیس، رویالټي یا ۴۴,۱,۱۱ مادې مطابق د نورو تادیاتو په ورکولو مکلف دی)، او دغه تقصیر د اصلاح وړ نه وي یا هم دا چې وزارت دهمدغې مادې په رڼا کې د لیکلې خبرتیا له لارې له ترون لرونکي څخه د تقصیر د اصلاح یا جبران غوښتنه کړې وي او ترون لرونکی د خبرتیا تر خپرېدو وروسته د ۲۰ کاري ورځو په جریان کې د تقصیر په سمولو کې پاتې راغلی وي او د وزارت قناعت یې نه وي حاصل کړی ؛

44.1.12.2 د کانونو نافذه قانون، مقررې او یا بل نافذه قانون نقض؛ یا

44.1.12.3 هم د جواز د شرطونو د یو شرط نقض.

**د ترون فسخه کول**

44.2 ترون لرونکی منې چې د کانونو د نافذه قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره، د تقصیر د مواردو د پېښېدو په صورت کې وزارت کولای شي چې د کانونو د تخنیکي کمېټې له سپارښتنې او د اقتصادي کمېسیون له منظورۍ سره سم دغه ترون فسخ کړي.

44.3 د تقصير له هغو مواردو پرته چې په ۴۴,۱ ماده کې بیان شوي دي، په هغه صورت کې چې د اکتشاف او استخراج فعالیتونه د کانونو نافذه قانون کې د اکتشافي یا استخراجي جواز د لغوې په تړاو ذکر شوې مودې څخه د زیات وخت لپاره وځنډېږي او وزارت د مودې له تمدید سره موافقه ونه کړي، امارت کولای شي چې دغه تړون فسخه کړي.

**د تړون د فسخې خبرتیا**

44.4 که وزارت د کانونو د نافذه قانون مطابق دغه تړون فسخ کوي، امارت ژمنه کوي چې وزارت به د تړون د فسخ د اجرا نېټې په اړه تړون لرونکي ته لیکلي خبرتیا صادروي.

## 45 د تړون د فسخې آثار

**د جوازونو لغوه کول**

45.1 د دغه تړون فسخه کول که د هر دلیل له مخې وي، ددې تړون او د کانونو د نافذه قانون سره سم هر دول صادر شوی جواز د وزارت له لوري لغوه کېدای شي.

**د تړون د فسخې نور آثار**

45.2 په هر دلیل وي، د دې تړون تر فسخه کېدو وروسته:

45.2.1 تړون لرونکی مکلف دی چې وزارت ته له کوم لګښت پرته د ټولو هغو معلوماتو چې د تړون په موده کې یې تولید کړي دي، د وزارت له لوري تر لیکلي غوښتنې وروسته د ۲۰ کاري ورځو په جریان کې وزارت ته وړاندې کړي؛

45.2.2 په دې تړون کې د هر لوري درج شوي مکلفیتونه رفع کېږي، مګر له هغو مکلفیتونو پرته چې په ۱،۲،۴۰،۴۱،۴۲،۴۳،۴۴،۴۶ او له ۵۵ څخه پرته کې درج شوي دي او یاد مکلفیتونه به ددې تړون فسخه کېدو وروسته د اجرا په حال کې پاتې کېږي؛ او

45.2.3 هر لوری کولای شي د بل لوري پر وړاندې د دغه تړون د نقض په صورت کې له خپلو حقوقو چې د تړون له پای ته رسولو مخکې یې درلودل، دفاع وکړي.

## 46 د جواز د مودې د پوره کېدو، انصراف یا لغوه کېدو آثار

**د منرالي فعالیتونو پای ته رسول**

46.1 تړون لرونکی مکلف دی چې د جواز د نېټې په پوره کېدو سره سم د جواز په ساحه کې منرالي فعالیتونه پای ته ورسوي.

**له ساحې څخه د استازو ایستل**

46.2 له هغو مواردو پرته چې تړون لرونکی ددې تړون په ۴۶,۳ او ۴۶,۶ ماده کې مندرج مکلفیتونه ترسره کړي، تړون لرونکی همدارنګه مکلف دی چې د جواز تر پای ته رسېدو وروسته د جواز ساحې څخه خپل ټول استازي وباسي.

**د وسایلو او زېربنا لېږدول**

46.3 له هغو مواردو پرته چې تړون لرونکی ددې تړون په ۴۶,۵ ماده کې د مندرجه مکلفیتونو پر رعایت مکلف دی، تړون لرونکی همدارنګه مکلفت لري چې:

46.3.1 د جواز ساحې څخه د هغو ټولو وسایلو لېږدول چې د تړون لرونکي یا د هغو د استازو له خوا راوړل شوي وي؛ او

46.3.2 له ۳۱,۶ مادي سره په مطابقت کي، د هر هغې زېربنا غیر فعالول او لرې کول چې د تړون لرونکي یا د هغه د استازو له خوا د جواز ساحه کي رغول شوي دي، او دا کار باید په هر صورت کي له لاندي نېټو څخه زيات نه ځنډېږي:

46.3.3 د جواز د پای نېټه؛ یا

46.3.4 که چېري اړونده جواز د کانونو د نافذه قانون سره سم لغوه شي، نو نېټه به د الغا تر نېټي وروسته ۶۰ کاري ورځې وي.

46.4 که چېري د جواز په ساحه کي وسایل یا زېربنا په هغې موده کي چې په ۴۶,۳ ماده کي ذکر شوي، لرې نه شي، نو وزارت حق لري چې په اړه یې لازمه پرېکړه وکړي.

**د نیمګړو پاتي شویو مکلفیتونو سر ته رسول**

46.5 د یو جواز د مودې له پای ته رسېدو، انصراف یا لغوه کېدو سره سم تړون لرونکی مکلف دی چې:

46.5.1 د جواز د نېټي له پای ته رسېدو وروسته څومره ژر چې شوني وي، تړون لرونکی به د جواز ساحه د وزارت له قناعت سره سم خوندي کوي، تر څو کوم شخص یا څاروي د ژوبلېدو او یا نورو ملکیتونو ته د زیان اوښتو مخنیوی وشي؛

46.5.2 د چاپېریال ساتني مدیریت د منظور شوي پلان په پام کي نیولو سره، تړون لرونکی مکلف دی چې خپل نیمګړي یا پاتي مکلفیتونه ادا کړي (د شک د مخنیوي لپاره، هغه پاتي مکلفیتونه چې تړون لرونکي یې د بیا رغوني او د کان د مخي د بندولو په برخه کي لري)؛

46.5.3 د ټولو هغو ګامونه اخیستل چې د نافذه قوانینو د رعایت لپاره اړین ګڼل کېږي؛ او

46.5.4 څومره ژر چې شوني وي، وزارت ته په لیکلي بڼه خبر ورکړي چې د ۴۶,۵,۱ – ۴۶,۵,۳ مادو پربنسټ خپل مکلفیتونه سر ته ورسوي.

**د جواز د مودې تر پای ته رسېدو وروسته ساحي ته لاسرسی**

46.6 له هغو مواردو پرته چې په ۴۶ ماده کي ذکر شوي، تړون لرونکی بڼایي:

46.6.1 د جواز ساحي نېټي تر پای ته رسېدو وروسته د جواز ساحي ته تر هغې مودې پوري لاسرسی ولري، چې منطقاً له ۴۶,۵,۱ تر ۴۶,۵,۳ مادې په رڼا کي د تړون لرونکي د مکلفیتونو د سرته رسولو لپاره اړین دي او ساحي ته د دغو تجهیزاتو وړل او له استازو سره داخلېدل یوازې د مکلفیتونو د ادا کولو او څېړنو په مقصد وي؛ او

46.6.2 د هرې هغې لاربښوونې متابعت وکړي چې ساحي ته د لاسرسي په اړه د کومي اداري له خوا صادرېږي.

**د اجراء د تضمین او د چاپېریال ساتني تضمین مستردول**

46.7 امارت ژمنه کوي چې وزارت د لاندي کارونو په ترسره کولو مکلف دی:

46.7.1 د تړون لرونکي له خوا د ۴۶,۵,۴ مادې مطابق د خبرتیا له تر لاسه کولو وروسته، وزارت مکلف دی چې تر کومه چې عملي وي، د جواز ساحه تفتیش کړي څو تصدیق کړي چې تړون لرونکي د اکتشاف په منظور شوي پروګرام، د کان کیندني منظور شوي پرپوزل او د چاپېریال ساتني د مدیریت منظور شوي پلان کي شوي ژمني ترسره کړې دي.

46.7.2 څومره چې ژر شوني وي، وروسته له هغې چې وزارت تصدیق کړي چې تړون لرونکي:

46.7.2.1 په منظور شوي اکتشافي پروګرام یا د کان کیندني منظور شوي پروپوزل کي خپلې ژمني پوره کړي، نو وزارت تړون لرونکي ته د اجرا اړونده تضمین بېرته سپاري؛ او

46.7.2.2 د چاپېریال ساتني د مدیریت په منظور شوي پروګرام کي یې ژمني پوره کړي، وزارت تړون لرونکي ته چاپېریال ساتني د اجرا تضمین بېرته سپاري؛

46.8 وزارت بڼایي د خپل لزوم دید پراساس د چاپېریال ساتني اړوند د اجرا تضمین ټول یا یوه برخه یې بېرته تړون لرونکي ته وسپاري، ترڅو د کان تر تړل کېدو پوري د روان نظارت لپاره یو

تضمین وي. که چیري وزارت وغواړي چې د چاپېریال ساتنې د تضمین مقدار کې بدلون راولي، کولای شي چې له نافذه مقررې سره سم یې ترسره کړي.

**47 ګډې حل لارې**

47.1 هغه حقوق او حل لارې چې ددې تړون په نهمه برخه کې مشخصې شوې دي، پر هغو حل لارو سربېره دي او پر هغو حقوقو یا حل لارو باندې نه عوض کېږي یا هغه نه محدودوي چې په همدې نهمه برخه یا په نافذه قانون کې بیان شوي دي.

## لسمه برخه: فرعي قراردادونه او معاملې

**48 فرعي قرارداد**

48.1 که چیرې تړون لرونکی د منرالي فعالیتونو د ترسره کولو په تړاو کوم قراردادي استخداموي، نو:

48.1.1 تړون لرونکی مکلف دی چې سملاسي د قراردادي او د هغو منرالي فعالیتونو د جزییاتو په اړه چې قراردادي یې په پام کې لري، وزارت ته په لیکلې بڼه خبر ورکړي ؛

48.1.2 تړون لرونکی باید داډ رامنځته کړي چې د قراردادي له لوري د هر منرالي فعالیت له ترسره کولو وړاندې:

48.1.2.1 نوموړی قراردادي، له تړون لرونکي سره په لیکلې بڼه تعهد کوي چې تر هغه بریده به ددې تړون د شرایطو رعایت کوي تر کومه چې پر منرالي فعالیتونو د تطبیق وړ وي ؛ او

48.1.2.2 فرعي قراردادي له قراردادي سره په لیکلې بڼه تعهد کوي چې تر هغه بریده به ددې تړون شرایط رعایت کوي تر کومه چې پر منرالي فعالیتونو د تطبیق وړ وي.

48.1.3 د ۴۸،۱،۲ مادې له محدودولو پرته، تړون لرونکی مکلف دی چې دا داډ رامنځته کړي چې قراردادي او د فرعي قراردادي، په منرالي فعالیتونو کې د بوختو کسانو لپاره اړینه تکافل پلې کوي.

48.1.4 تړون لرونکی مکلف دی چې دا داډ رامنځته کړي چې د تړون لرونکي له خوا د قراردادي او بل هر فرعي قراردادي نظارت او مدیریت په کافي اندازه ترسره کېږي ترڅو تصدیق کړي چې :

48.1.4.1 تړون لرونکی ددې جوګه دی چې د قراردادي او د فرعي قراردادي له خوا ددې تړون شرایط رعایت کېږي؛ او

48.1.4.2 تړون لرونکی د قراردادي یا فرعي قراردادیانو له هغو کړنو له مخکې خبر کړي چې ښایي تړون لرونکی ددې تړون د کوم شرط د نقض له ګواښ سره مخ کړي.

48.2 د شک د مخنیوي لپاره:

48.2.1 په دې تړون کې هیڅ شی د تړون لرونکي هغه مکلفیتونه یا مسئولیتونه چې ددې تړون پربنسټ ورته سپارل شوي، نه شي رفع کولای، ولو که تړون لرونکي خپل ځینې مکلفیتونه کوم قراردادي یا فرعي قراردادیانو ته تفویض کړي هم وي؛

48.2.2 د ۴۸،۲،۱ مادې د حکمونو له محدودلو پرته، ۴۸،۱،۳ مادې ته په پام سره که چېرې قراردادي یا فرعي قراردادیان د اړینې بیمې په اجرا کولو کې پاتې راشي، دا کار به د تړون لرونکي لپاره په تړون کې د راغلو مکلفیتونو او مسئولیتونو د ترسره کولو خنډ نه (د شک د مخنیوي لپاره، ۲۴ مادې مطابق د تړون لرونکي له خوا د بیمې د اجرا په برخه کې د مکلفیت په شمول)؛ او

48.2.3 تړون لرونکی به د قراردادي او فرعي قراردادي د هر عمل او ترک عمل په وړاندې مسئول وي، داسې چې د قراردادي او فرعي قراردادیانو عمل یا ترک عمل د تړون لرونکي اعمال دي.

Islamic Emirate of Afghanistan
C.A.D

## 49 د مدیریت بدلون

**د اړتیا ور منظوري**

49.1 د ۲۴,۲ مادې له محدودولو پرته، تړون لرونکی مکلف دی چې د پروژې مدیریت کې تر بدلون راوستلو وړاندې د نافذه مقرراتو له مخې د وزارت لیکلې منظوري ترلاسه کړي.

**د هغه جواز خندول چې منظورۍ ته په تمه دی**

49.2 تړون لرونکی دا مني چې د کانونو نافذه قانون له مخې، که د تړون لرونکي په مدیریت کې د وزارت تر لیکلې منظورۍ وړاندې بدلون راشي، په دغه صورت کې د تړون لرونکي ټول جوازونه د بدلون د پیل په موده کې خنډول کېږي او پر هغه نېټه یې د اعتبار موده پای ته رسیږي په کومه چې وزارت د منظورۍ لپاره وړاندې شوی غوښتلیک منظوروي.

**له منظورۍ پرته د مدیریت بدلون**

49.3 که چېرې د تړون لرونکي له خوا د مدیریت بدلون:

49.3.1 د وزارت تر لیکلې منظورۍ وړاندې پېښ شي او بیا وزارت د تړون لرونکي غوښتنه د مدیریت د بدلون له مخې رد کړي؛ یا

49.3.2 د وزارت له لوري د مدیریت بدلون لپاره د غوښتنلیک تر ردولو وروسته پېښ شي،

نو په دې په دغه صورت کې ښایي تړون د ۴۴,۱,۹ مادې له مخې فسخ شي.

## 50 د حقونو او مکلفیتونو پر لېږد محدودیتونه

**د امارت له خوا لېږد**

50.1 امارت نه شي کولای چې په دغه تړون کې راغلې حقوق او مکلفیتونه بل لوري ته ولېږدوي، مګر دا چې امارت د تړون لرونکي لیکلې موافقه ترلاسه کړې وي.

**د تړون لرونکي لهخوا لېږد**

50.2 تړون لرونکی نه شي کولای چې:

50.2.1 په دې تړون کې راغلي هر ډول حقوق او مکلیفتونه بل لوري ته ولېږدوي، مګر د جواز یا د جواز منفعت اړونده حقوق او مکلفیتونه لېږدولای شي، او

50.2.2 جواز یا د جواز منفعت لېږدولای شي (چې د شک د مخنیوي لپاره د جواز د منفعت ایجاد هم پکې شاملېږي)، مګر دا چې:

50.2.2.1 تړون لرونکي د کانونو د نافذه مقرراتو او قانون سره سم له وړاندې د وزارت منظوري ترلاسه کړې وي؛ او

50.2.2.2 د ۵۰,۳ او ۵۰,۵ مادې د حکمونو په رعایت سره، د جواز د منفعت ترلاسه کوونکي لومړی په داسې بڼه له امارت سره ژمنلیک لاسلیک کړی وي چې وزارت ته د منلو وړ وي او ددې ژمنې پربنسټ د امارت په وړاندې دا تعهد لري چې د تړون ټول مکلفیتونه چې د حقونو د لېږد په اړه ذکر شوي یا هم د تړون لرونکي پر ځای په صراحت سره بیان شوي وي، رعایت کوي.

50.3 امارت کولای شي چې په ۵۰,۲,۲,۲ ماده کې د ذکر شوي تعهد پر ځای، د اړونده جواز د منفعت ترلاسه کوونکی مکلف کړي ترڅو پر هغو شرایطو برابر چې په دې تړون کې ذکر شوي دي، د یو بل تړون د عقد لپاره چمتو شي.

50.4 د ۵۰,۲,۲,۲ مادې له مخې د ژمنلیک تر اجرا یا د کانونو د اوسني تړون تر عوض کېدو وروسته چې په ۵۰,۳ ماده کې توضیح شوې، اوسنی تړون لرونکی ددې تړون پربنسټ د راتلونکو ټولو

مکلیفیتونو په وړاندې تر هغه بریده آزاد دی چې تر کومه چې یاد مکلفیتونه د ژمنلیک یا د کانونو د تړون له مخې د اړونده جواز د منفعت ترلاسه کوونکی پرغاړه اخلي.

د تضمین کټه

50.5 که تړون لرونکی د شریعت مطابق ددې مقصد لپاره د جواز د امتیازونو د لېږد وړاندیز وکړي (چې د شک د مخنیوي لپاره د جواز د امتیاز رامنځته کول هم پکې شامل دي) چې یوه شخص ته د رهن یا د تضمین د نورو کټو د ورکولو په وسیله د جواز په ساحه کې د منرالي فعالیتونو د تمویل لپاره مالي وجوه ترلاسه کړي، په ۵۰،۲،۲،۲ ماده کې راغلې ژمنه بنایي د جواز ترلاسه کوونکو په انتخاب یا د یاد شخص له خوا د راتلونکو حقونو په پلي کولو یا هم یاد شخص یا د هغه په استازیتوب د بل شخص له خوا د واک په پلي کولو پورې مشروط وي، ترڅو جواز یا د جواز امتیاز ولېږدوي.

## یوولسه برخه: عمومي حکمونه

### 51 د امارت له خوا داد

منظوري

51.1 امارت ژمنه کوي چې، تر کوم ځایه چې شوني وي او د دې تړون او نافذه قوانینو سره مطابقت ولري، وزارت او ټولې اړونده اداري به هڅوي چې تړون لرونکي سره د پروژې د پراختیا او اجرا په برخه کې د ټولو اړینو منظوري ګانو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

د امارت لهخوا د خنډونو نه جوړول او نه تبعیض

51.2 د تړون لرونکي له خوا ددې تړون او د نافذه قوانینو د شرطونو او حکمونو د رعایت په پام کې نیولو سره، امارت به په هېڅ داسې عمل لاس نه پورې کوي کوم چې:

51.2.1 د تړون لرونکي وړتیا یا توانایي داسې اغېزمنه کړي چې خپله شتمني او کاروبار لکه څرنګه چې لازمه ده، هغسې تنظیم نه شي کړای؛ او

51.2.2 په افغانستان کې دننه د تړون لرونکي د استازو آزاد تګ راتګ زیانمن کړي.

51.3 د ۵۱،۴ مادې له مخې، امارت باید په نافذه قوانینو کې داسې کوم حکم اضافه نه کړي کوم چې پر تړون لرونکي یا هم د تړون لرونکي په اړونده لورو باندې د کوم مادي مالي یا بل بار د وضع کولو سبب شي، ولو که د دغه ډول حکمونو موخه په مشخصه توګه تړون لرونکی یا د هغه اړونده لوري که نه.

51.4 ددې تړون ۵۱،۴ ماده پر هغه نافذه قانون نه شي تطبیق کېدای کوم چې:

51.4.1 موخه یې د ایمنې، روغتیایي، عامه هوساینې یا امارت او د هغه د وګړو د امنیت خوندیتوب وي؛ یا هم

51.4.2 د امارت د نړیوالو مسؤلیتونو ترسره کول وي.

بهرني کارګر

51.5 د تړون لرونکي له خوا د تړون د ۲۹ مادې د شرایطو او د محلي کټې د منظور شوي پلان د شرایطو په رعایت سره، تړون لرونکی بنایي د نافذه قوانینو په پام کې نیولو سره لکه څرنګه چې اړتیا یا مناسبه وي، بهرني کارګر استخدام کړي.

51.6 د ۵۱،۱ یا ۵۱،۲ مادو د حکمونو له محدودولو څخه پرته، امارت مکلف دی چې که چېرې اړتیا ولیدل شي، د منرالي فعالیتونو د ترسره کولو په مقصد د تړون لرونکي له خوا د بهرنیو کارګرو استخدام ته اجازه ورکړي ترڅو په ازاده توګه:

51.6.1 افغانستان ته راشي، کار وکړي او هستوګن شي؛ او

51.6.2 له افغانستان څخه ووځي؛

خو په دې شرط چې یاد کسان به ټل د نافذه قوانینو تابع اوسي .

**د تړون لرونکي د شتمنیو مصادره**

51.7 امارت نه شي کولای چې د اجبار له لارې:

51.7.1 د تړون لرونکي له خوا د منرالي فعالیتونو په نتیجه کې استخراج شوي منرالونه یا تولید شوي محصولات مصادره کړي؛ یا

51.7.2 د تړون لرونکي کوم عقاري یا شخصي ملکیت (د شک د مخنیوي لپاره، د هغې ځمکې په ګډون چې د تړون لرونکی ملکیت وي)

خو له هغو مواردو پرته چې د استملاک قانون، د خصوصي پانګونې قانون یا کوم بل نافذه قانون اجازه ورکړې وي.

51.8 که امارت یې ارینه وګڼي چې د ۵۱,۷ مادې مطابق منرالونه، محصولات یا نور ملکیتونه په جبري توګه مصادره کړي، نو امارت مکلف دی چې د نافذه قوانینو سره سم تړون لرونکي ته یې جبران چې عادلانه، کافي او اغېزناک وي، تادیه کړي.

**د تړون لرونکي په ګټه د ځمکې استملاک**

51.9 په هغه صورت کې چې د کانونو نافذه قانون پلي کېږي، امارت ژمنه کوي چې وزارت به دې ته چمتو کوي ترڅو د هغې اړونده ځمکې د جبري استملاک په اړه چې د بل شخص ملکیت وي، څومره چې ژر کېدای شي د اقتصادي کمېسیون څخه منظوري ترلاسه او دا کار به لاندې مواردو ته په پام سره ترسره کېږي:

51.9.1 تر یادې نېټې وروسته د ۹۰ کارې ورځو په جریان کې کله چې تړون لرونکی د اړونده ځمکې په اړه د کانونو نافذه قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د ځمکې مالک یا متصرف ته د هغه د رضایت ترلاسه کولو لپاره لیکلې غوښتنه ولېږي.

51.9.2 دکانونو د نافذه قانون سره سم تر یادې نېټې وروسته کله چې د ځمکې مالک یا متصرف د تړون لرونکي غوښتنې ته د رد ځواب ورکړي؛

په دواړو حالاتو کې، چې تړون لرونکی لرونکی مکلف دی وزارت په لیکلې توګه خبر کړي، دغه خبرتیا باید له لاندې ضمایمو سره مل وي:

51.9.3 د ټولو هغو لیکونو کاپي ګانې چې د تړون لرونکي او د اړونده ځمکې د مالک یا متصرف ترمنځ تبادله شوي ؛ او

51.9.4 په دې اړه غوښتنه چې وزارت د اړونده ځمکې د جبري استملاک لپاره د اقتصادي کمېسیون څخه منظوري ترلاسه کړي.

51.10 تړون لرونکی منې او موافقه کوي چې که چېرې اقتصادي کمېسیون د جبري استملاک وړاندیز چې د کانونو نافذه قانون کې تصریح شوی، تصویبوي، نو:

51.11 د استملاک قانون له مخې د خسارې جبران (د معادلې ځمکې د ورکړې په شمول) د استملاک د اړونده اداري لهخوا د تادیې وړ دی؛

51.11.1 د کانونو پر نافذه قانون او مقررې سربېره، که د خسارې جبران د استملاک قانون له مخې د استملاک د اداري لهخوا د تادیې وړ وي،

51.11.2 په دغه صورت کې تړون لرونکی مکلف دی چې د استملاک د اداري تر غوښتنې وروسته د ۲۰ کارې ورځو په موده کې، دغې اداري ته د هغې معادل ورکړي.

**52 ثبات**

52.1 که چېرې:

52.1.1 د انفاذ له نېټې وروسته هر مهال:

52.1.1.1 په افغانستان کي نوي ماليات، تاديات يا نور فيسونه وضع کېږي او هغه يوازې د منرالي فعاليتونو په اړه وي؛ يا

52.1.1.2 په نافذه قوانينو کي کوم بدلون راځي، چي مالياتي قوانين هم پکي شامل وي،

او ياد بدلون تبعيضانه وي يا د تړون لرونکي پر وړاندې تبعيضانه اغېز ولري؛ او

52.1.2 په ۵۳،۱،۱،۱ يا ۵۳،۱،۱۲ مادو کي د ذکر شويو حالاتو په نتيجه کي، د تړون لرونکي پر اقتصادي ګټو چي له منرالي فعاليتونو يا له دې تړون څخه يې ترلاسه کوي، معکوسي يا منفي اغېزې ولري؛

نو په دې صورت کي تړون لرونکی به امارت ته ليکلي خبرتيا استوي او په دې خبرتيا کي بايد د اړونده حالاتو يا د هغو منفي اغېزو په اړه چي تړون لرونکی ورسره مخ دی، پوره جزييات شامل وي.

52.2 که چيرې تړون لرونکی د ۵۳،۱ مادې له مخي امارت ته خبرتيا استوي، نو اړخونه، بې له دې چي د ۵۲،۳ مادې حکمونو ته زيان ورسېږي، سملاسي غونډه کوي او خپلي ګډې هڅې په کار اچوي ترڅو په تعديل کي پر داسي تعديلاتو يا بدلون راوستلو هوکړه وکړي، چي ښايي د تړون لرونکي د اقتصادي ګټو د بيا احيا لپاره چي ممکن دغه ګټي يې له منرالي فعاليتونو يا له تړون څخه چي د نويو مالياتو، محصولاتو، فيسونو يا په نافذه قوانينو کي د تعديل مستلزم نه و، اړين ګڼل کېږي .

52.3 که چيرې د تړون لوري ونه توانېږي د ۵۳،۱ مادې مطابق د تړون لرونکي له خوا امارت ته د خبرتيا تر استولو وروسته دشپږو مياشتو دننه هوکړې ته ورسېږي، نو:

52.3.1 د منفي اغېزو لپاره د تړون لرونکي يوازيني او ځانګړې حل لاره چي په ۵۳،۱،۲ ماده کي ورته اشاره شوې، هغه مقدار خساره ده کوم چي د دغو منفي اغېزو لپاره تړون لرونکي ته د جبران لپاره کافي ګڼل کېږي او دغه جبران د تړون د ۵۳،۳،۳ مادې په پام کي نيولو سره تاديه کېږي؛

52.3.2 دواړه لوري کولای شي د خسارې د مقدار يا د هغه ميکانيزم د ټاکلو لپاره چي د خسارې اندازه پرې محاسبه کيږي، له ۵۵ بند سره سم حَکميت ته مراجعه وکړي ؛ او

52.3.3 امارت ژمنه کوي چي وزارت تړون لرونکي ته هغه مقدار خساره چي په ۵۳،۳،۲ ماده کي ورته اشاره شوې، له رويالټي څخه چي د تړون لرونکي له خوا ددې تړون پر اساس ورکول کېږي، تاديه کړي.

استثناءآت

52.4 د شک د رفع کولو لپاره:

52.4.1 له ۵۳،۱ څخه تر ۵۳،۳ پوري مادې پر لاندې مواردو نه تطبيقېږي:

52.4.1.1 هر ډول مالي، تاديات او يا نور عام اجرا کېدونکي فيسونه کوم چي په مشخصه توګه د منرالي فعاليتونو په اړه نه وي او تبعيضانه نه وي او يا د تړون لرونکي پر وړاندې تبعيضانه اغېز ونه لري ؛ يا

52.4.1.2 د نافذه قوانينو له مخي د ځمکي د سطحې په کرايې، فيسونو يا د ساختماني توکو په رويالټي کي زياتوالی راولي او دغه زياتوالی په افغانستان کي د انفلاسيون کارېدونکي نرخ په پام کي نيولو سره عملي شي ؛ او

52.4.2 په ۵۵ ماده کي ذکر شوی هېڅ مورد بايد داسي تعبير نه شي چي ګويا د نافذه قوانينو د تطبيق پر ساحې او د هغه د غوره تطبيق پر وړاندې کوم محدوديت يا موانع وضع کوي کوم چي ياد قوانين د تړون لرونکي پر وړاندې تبعيضانه چلند يا تبعيضانه اغېزو ته لار نه هواروي.

## 53 غير مترقبه پېښي (فورس ماژور)

### غير مترقبه پېښي

53.1 د ۵۴،۲ مادې په رعايت سره، د تړون د ۵۴ مادې د موخې په رڼا کي **غير مترقبه پېښه** هغې پېښې يا حالت يا د پېښو يا حالاتو ترکيب ته وايي کوم چي:

53.1.1 له منطقي نظره د اټکل وړ نه وي؛

53.1.2 منطقاً د زيانمن لوري له کنټرول يا اختيار څخه پورته وي؛

53.1.3 په دې ترون کې د زيانمن لوري د راغلو مکلفيتونو (له هغه مکلفيت پرته چې د تادياتو په اړه وي) د ځنډ يا تقصير لامل شي؛ او

53.1.4 د غيرمترقبه پېښې په وخت کې دا توقع نه شواى کېداى چې زيانمن لوري د صنعت د غوره کړنې پر اساس د معقولانه او ځيرکانه کوښښونو په ترسره کولو سره د هغې مخنيوى کړى واى يا يې کنترول کړي واى؛ او

تر هغه بريده چې په ۵۴،۱،۱ – ۵۴،۱،۴ مادو کې ذکر شوي شرايط پوره کړي، لاندې حالات غير مترقبه پېښې ګڼل کېږي:

53.1.5 جګړه، پاڅون، بلوا، مدني نافرماني او ترورېستي اعمال؛

53.1.6 محاصره، اعتصابونه او يا د هېواد يا اړونده صنعت په سطحه کارګري شخړې چې له زيانمن يا زيانمن لوري يا د زيانمن لوري له نورو اړوندو لورو سره تړاو ونه لري؛

53.1.7 وبا ګانې يا قرنطين؛ او

53.1.8 زلزله، طوفان، سېلاب، اور لګېدنه، تالنده برېښنا يا د هوا نور ورانوونکي پېښې.

53.2 پر ۵۴،۱ مادې سربېره، د ۵۴ مادې د موخو په رڼا کې لاندې پېښې يا حالتونه په غيرمترقبه پېښو کې نه راځي:

53.2.1 اقتصادي تنګلاسي يا د بازار په شرايطو کې بدلون؛

53.2.2 هغه پېښې چې ددې ترون پر اساس د يوه زيانمن طرف د مکلفيتونو اجرا سختوي، خو ناممکن کوي يې نه؛

53.2.3 جګړې، پاڅونونه، بلواوې، مدني ناکرارې او ترورېستي اعمال، مګر دا چې دغه پېښې:

53.2.3.1 په مستقيم ډول د جواز سيمه اغېزمنه کړي يا په مادې توګه د کان کيندنې پروپوزل تطبيق مختل يا مخنيوى يې وکړي؛

53.2.3.2 په پورتنۍ ۵۴،۲،۳ ماده کې مشخص شوي اړونده وضعيت د پام وړ خرابوالي لامل شي کوم چې د انفاذ د نېټې اړونده شرايطو سره تړاو ولري؛ او

53.2.3.3 ترون لرونکي د کورني امنيت پلان کې راغلي تعهدات پلي کړي وي؛

53.2.4 د جواز ساحې موجوده شرطونه، د موجوده ناچاوده مهماتو په شمول؛

53.2.5 د جواز په سيمه کې تر معمولي کچې ډېر د ژمي اورېدل؛ او

53.2.6 نورې هغه پېښې يا حالات چې د پېښېدو په وخت کې، د غير مترقبه پېښو له تعريف سره چې په ۵۴،۱ ماده کې وړاندې شوى، نږدې مستقيم تړاو ونه لري.

**د غير مترقبه پېښو اغېزې**

53.3 د ۵۴،۴ مادې مطابق، که چېرې کومه غيرمترقبه پېښه ددې سبب کېږي چې په ترون کې د ترون لرونکي يا امارت (زيانمن لوري) د راغلو مکلفيتونو د اجرا مخنيوى کوي يا يې د ځنډ لامل ګرځي، نو :

53.3.1 د زيانمن شوي لوري اړونده مکلفيتونه (له مالي مکلفيتونو پرته)؛ او

53.3.2 د مقابل لوري اړونده مکلفيتونه به کوم چې د زيانمن لوري د مکلفيتونو په اجرا پورې متکي دي،

له هغې نېټې څخه ځنډول کېږي کوم چې فورس ماژور (غيرمترقبه) پېښې د يادو مکلفيتونو د اجرا مانع ګرځي يا هغه ځنډوي او دا حالت به تر هغې دوام مومي چې د ۵۴،۹ مادې مطابق فورس ماژور پېښې پاى ته رسېږي.

**د غیر مترقبه حالاتو په اړه خبرتیا**

53.4 که چېرې یو زیانمن لوری د غیرمترقبه پېښو له امتیاز څخه د برخمن کېدو دعوی کوي، نو:

53.4.1 بل لوري د هغې پېښې یا حالاتو یا د دوارو پېښو یا حالاتو په اړه خبر کړي چې فورس ماژور لامل کېږي، او د فورس ماژور تر پېښېدو وروسته د ۱۰ ورځو په جریان کې وروسته تر هغې چې زیانمن لوری په لومړي ځل د فورس ماژور په اړه خبرېږي، څومره ژر چې شوني وي خبر ورکړي؛

53.4.2 بل لوری سملاسي د هغو اقداماتو په اړه خبر کړي چې د فورس ماژور پېښو د اغېزو د راکمولو په موخه تر لاس لاندې نیول شوي وي؛

53.4.3 د ۵۴,۵ مادې حکمونه رعات کړي، که څه هم ۵۴,۴ ماده په خپله باید د یو زیانمن لوري له خوا د ۵۴,۴ مادې سره سم د خبرتیا د صدور خنډ ونه ګرځي.

53.4.4 ددې تړون له مخې د خپلو هغو مکلفیتونو ترسره کولو ته دوام ورکړي چې فورس ماژور پېښو له کبله نه دي اغېزمن شوي ؛ او

53.4.5 څومره ژر چې شوني وي، ددې تړون له مخې د خپلو مکلفیتونو سرته رسول بېرته پیل کړي.

**د اغېزو راکمولو مکلفیت**

53.5 زیانمن لوری مکلف دی چې د فورس ماژور پېښو د اغېزو راکمولو لپاره غوره هڅې وکړي او د مکلفیتونو په سرته رسولو کې رامنځته شوی خنډ حداقل ته ورسوي.

**هغه پېښې چې له حقوقي لارو د حل و فصل وړ نه دي**

53.6 بې له دې چې ددې تړون پربنسټ د یو زیانمن لوري مکلفیتونه اغېزمن شي، په ۵۴,۵ ماده کې د درج شویو مکلفیتونو په شمول، که چېرې یو زیانمن شوی یې مناسبه ونه ګڼي، یاد لوری مکلف نه دی چې د محاصرې، تحریم، اعتصاب یا کارګري اختلاف اړونده شخړو د حل لپاره سره کېني.

53.7 که چېرې یو زیانمن شوی لوری په ۵۴,۶ ماده کې ذکر شویو مواردو ته په رسیدګي کې پاتې راشي، دا پېښه باید داسې ونه ګڼل شي چې ګڼي د زیانمن لوري په کنترول کې وه، یا هم په ۵۴,۱ ماده کې د فورس ماژور پېښو تعریف ته په پام سره، زیانمن لوري د یادو پېښو مخنیوی کولای شوای یا یې هم په کنترولای شوای.

**لګښت**

53.8 پر هغو حکمونو سربېره چې د ۵۴ مادې له حکم سره مغایرت لري، د فورس ماژور پېښو د اغېزو د راکمولو لپاره د کوښښونو په لړ کې، هېڅ زیانمن لوری اړ نه دی چې د اړوند کار ترسره کولو لپاره تر معقولې اندازې زیاتې پیسې مصرف کړي. په دې توګه، د زیانمن شوي لوري هېڅ ډول مالي وضعیت باید په پام کې ونه نیول شي.

**د غیرمترقبه پېښو پای**

53.9 فورس ماژور پېښې به د لاندې مواردو مخکې پای ته رسېږي او د زیانمنو لورو مکلفیتونه چې د ۵۴ مادې له مخې خنډېدلي دي، بېرته د بشپړ اجرا او انفاذ حالت ته راګرځي:

53.9.1 هغه وخت کله چې مقابل لوری د زیانمن شوي لوري خبرتیا ترلاسه کړي، کوم چې بیانوي چې نوموړی لوری ددې جوګه دی په دې تړون کې د راغلو مکلفیتونو اجرا بیا پیل کړي (دغه ډول خبرتیا باید په ممکنه لنډ وخت کې واستول شي) ؛ او

53.9.2 هغه وخت کله چې زیانمن شوی لوری په تړون کې د راغلو ژمنو اجرا له سره پیل کړي.

**د غیر مترقبه پېښو د دوام له امله د تړون فسخ کول**

53.10 که چېرې غیرمترقبه کومه پېښه تر پرلپسې شپږو میاشتو د زیاتې مودې لپاره دوام وکړي:

Islamic Emirate of Afghanistan

53.10.1 دواره لوري باید د ۵۲,۲ مادې مطابق د حسن نیت له مخې مذاکرات پیل کړي او د یادې مادې په اړه چې کوم تعدیلات اړین وي، په اړه یې موافقې ته ورسېږي؛ او

53.10.2 که چېرې:

53.10.2.1 دواړه لوري د ۵۲,۲ مادې مطابق د زیانمن شوي لوري له خوا د فورس ماژور په تړاو تر خپرې کړې خبرتیا وروسته د ۱۲ میاشتو په جریان کې د تړون د تعدیل په اړه هوکړې ته ونه رسېدل؛ یا

53.10.2.2 دواړه لوري د ۵۲,۲ مادې مطابق د تړون د یو یا دوه مورده تعدیلاتو په اړه د هغې مودې په جریان کې چې په ۵۴,۱۰,۲,۱ کې تصریح شوې، موافقې ته ورسېږي، خو یاد تعدیلات د ۵۲,۳ مادې مطابق د شپږو میاشتو په موده کې د اجرا وړ ونه ګرځي نو.

په دغه صورت کې له ۵۴,۱۱ مادې سره سم امارت کولای شي چې دغه تړون فسخ کړي او د تړون فسخ د یو لوري څخه بل ته د خبرتیا تر لیږلو وروسته د اجرا وړ دی.

53.11 که چېرې تړون د ۵۴,۱۰ مادې مطابق د امارت له خوا فسخ شي، د تړون ۴۵ ماده د تطبیق وړ ده.

## 54 د اختلافونو حل

### د افغانستان د سوداګریزو شخړو د حل مرکز (ACDR)

54.1 د ۵۵,۲ مادې په پام کې نیولو سره، که چېرې ددې تړون په اړه کومه شخړه، اختلاف یا دعوی رامنځته کېږي او د تړون د یو اړخ له لوري بل اړخ ته د خبرتیا تر استولو وروسته دواړه لوري د ۶۰ ورځو په جریان کې کومې هوکړې ته ونه رسېږي، نو موضوع به د افغانستان د سوداګریزو شخړو د حل و فصل مرکز کې حَکمیت ته محول کوي.

54.2 د شک د مخنیوي لپاره، امارت په دې وسیله په صراحت سره څرګندوي چې هر هغه اختلاف یا شخړه چې له دې تړون څخه رامنځته کېږي، د حل لپاره به د افغانستان د سوداګریزو شخړو مرکز ته وړاندې کېږي.

54.3 د حکمانو شمېر باید دري تنه وي.

54.4 د حکمیت قرار کېدای شي چې د یو مشخص مقدار پیسو د تادیه کولو یا هم د یو عمل د ترسره کولو، د یو عمل د نه ترسره کولو یا هم ددغه دول اعمالو د ترکیب په اړه د حکم صادرول وي.

54.5 د حکمیت ځای کابل، افغانستان دی.

54.6 د حکمیت قرار نهایي او د تطبیق وړ دی.

54.7 د افغانستان محاکم کولای شي چې د حکمیت د قرار د انفاذ په اړه حکم وکړي یا هم د قرار د تنفیذ لپاره د افغانستان له محاکمو څخه د صلاحیت د احراز غوښتنه وکړي.

54.8 تر کوم ځایه چې شوني وي، تړون لرونکی او امارت دواړه کولای شي چې د شخړې په جریان کې د تړون تطبیق ته دوام ورکړي.

## 55 محرمانه معلومات

### امارتي اسناد

55.1 تړون لرونکی مني چې د کانونو نافذه قانون سره سم وزارت به:

55.1.1 د اوسني تړون یوه نسخه او د تړون لرونکي د ذینفع مالکانو جزییات به د دغه تړون تر لاسلیک وروسته د ۱۰ کاري ورځو په جریان کې خپروي؛

55.1.2 د جواز یوه نسخه او د جواز لرونکي د ذینفع مالکانو جزییات به هم د جواز تر صدور یا انتقال وروسته د ۱۰ کاري ورځو په جریان کې خپروي؛

55.1.3 وزارت مکلف دی چې له نافذه مقررې سره سم، د ثبت شویو معلوماتو محتویات وساتي او هغه د عامه لاسرسي وړ وګرځوي؛

55.1.4 پر نورو موضوعاتو سربېره، د ثبت شویو معلوماتو محتویات به د تړون اړونده ځینې جزییات لکه څرنګه چې په نافذه مقرره کې ذکر شوي، شامل وي؛

55.1.5 د هغو اسنادو کاپي ګاڼي چې ددې تړون پربنسټ د خپراوي وړ وي، د کانونو نافذه مقررې سره سم به د عامه لاسرسي وړ ګرځي؛ او

55.1.6 اسناد باید په دې دلیل له خپرولو یا عامه لاسرسي ته له وړاندې کولو څخه پاتې نه شي چې ګنې د یادو اسنادو ځینې محتویات د محرمو معلوماتو لرونکي دي.

**د محرمو معلوماتو استفاده او افشا کول**

55.2 د ۵۶,۴ مادې د مفهوم له مخې، ترلاسه کوونکی لوری باید محرمانه معلومات د یو ثالث شخص په واک کې ور نه کړي، همدا راز له محرمانه معلوماتو څخه په هېڅ ډول استفاده نه شي کولای، مګر دا چې له دغه تړون یا نافذه قوانینو سره سم له خپلو حقونو څخه د ګټې اخیستنې او یا خپلو مسؤلیتونو پرځای کولو لپاره وکارول شي.

55.3 ترلاسه کوونکی لوری باید داډ ورکړي چې هر استازی یې چې د ۵۶ مادې د مقصد په رڼا کې محرمانه معلومات د هغوی په واک کې ورکول کېږي، د یاد شوي بند محتوا ته مراعاتوي.

55.4 د ۵۶,۲ مادې له مخې، ترلاسه کوونکی لوری په لاندې مواردو کې له محرمانه معلوماتو ګټه اخیستلای او یا یې افشا کولای شي:

55.4.1 د ۵۶,۵ مادې له مخې، ترلاسه کوونکی لوری به د معلوماتو د افشا کوونکي ادارې مخکې له مخکې رضایت ترلاسه کړی وي (دا رضایت په غیرمنطقي او مشروط ډول نه وي ترلاسه شوی او ځنډول شوی هم نه وي)؛

55.4.2 د معلوماتو افشاء کول به د ترلاسه کوونکي لوري استازي ته وي چې موخه یې له دغه تړون یا نافذه قانون او مقررې سره سم د ترلاسه کوونکي لوري له حقونو استفاده یا ترلاسه کوونکي لوري مسؤلیت پر ځای کول وي.

55.4.3 د کانونو نافذه قانون او مقررې او یا نور نافذه قوانین یې افشاء کول لازم وبولي.

55.4.4 معلومات د مالي مسؤلینو او یا د ښه نیت له مخې د ترلاسه کوونکي لوري د مالي مسؤلینو او یا هم له ترلاسه کوونکي لوري سره اړوند کوم درېیم کس په واک کې ورکړل شوي وي او هغه کس هم هوکړه کړې وي چې د ۵۶ بند محتوا به مراعاتوي؛ او یا

55.4.5 افشاء د پېرودونکي لپاره او په دغه تړون یا ورکړل شوي جواز کې د ترلاسه کوونکي لوري له حقوقو او ګټو سره په ښه نیت سره شوې وي او د معلوماتو ترلاسه کوونکی کس به هم د ۵۶ بند د محتوا له رعایت کولو سره هوکړه کوي.

**رضایت**

55.5 په هغه صورت کې چې تړون لرونکی د امارت له لوري د رضایت نامې په اړه د خبرتیا له ترلاسه کولو وروسته تر پنځو کاري ورځو پورې په لیکلې بڼه، د ۵۶,۴,۱ مادې له حکم سره سم خپل څرګند مخالفت اعلان نه کړي، په دې صورت کې به د محرمانه معلوماتو د افشاء او استفادې پربنسټ د تړون لرونکي رضایت بلل کېږي. البته په هغو حدودو کې چې د امارت له لوري د معلوماتو افشاء د خلکو د روغتیا، خوندیتابه او امنیت ساتنې لپاره په بېړنیو حالاتو کې اړین وبلل شي.

## 56 خبرتیاوې

د خبرتیا استول

56.1 هر ډول خبرتیا یا اړیکې چې ددې تړون له مخې يې اړخونه له یو بل سره تامینوي، باید په لیکلې بڼه په پښتو یا په دري ژبو وي او په لاندې طریقو سره واستول شي:

56.1.1 د تړون لرونکي په پته دې ولېږل شي او د اړوندې څانګې د پام اړولو لپاره يې باید د اړونده شعبې یا د آمر په نوم (که چېرې د تطبیق وړ وي) چې لاندې مشخص شوي، نښاني کړي؛ یا

56.1.2 هغه لورې ته د ایمېل له لارې او د څانګې او یا اړوند آمر (که موجود وي) له نښاني سره ولېږل شي، لکه څرنګه چې په لاندې ډول مشخص شوي.

**تړون لرونکی:**

پته: لکه څرنګه چې په "راجستر" کې ثبت دي

ایمېل: لکه څرنګه چې په "راجستر" کې ثبت دي

**وزارت:**

پته: مکروریان څلور لاری کابل

برېښنالیک: lsmmd@momp.gov.af

**د اړیکې د جزئیاتو بدلون**

56.2 تړون لرونکی تصدیقوي چې:

56.2.1 د کانونو د نافذه قانون له مخې تړون لرونکی مکلف دی چې ځان د ثبت شوي پتې پر سموالي او کره والي ډاډه کړي؛ او

56.2.2 پته او برېښنالیک د اړونده نافذه مقررې د حکمونو له مخې بدلېدای شي.

56.3 که امارت [دري] کاري ورځې وړاندې تړون لرونکی کس د خپلې پتې او ایمېل پر بدلېدو خبر کړي، هر ډول لېږل شوې خبرتیا او مکتوب هغه مهال د اعتبار وړ دی چې وروستي ایمېل یا پتې ته لېږل شوی وي.

**د خبرتیا وخت لاندې ترتیب شوی دی**

56.4 هر ډول لېږل شوې خبرتیا باید تر لاندې تاکل شوو مودو وروسته ترلاسه شوې وبلل شي:

56.4.1 که تحویل شوی وی، هغه وخت چې په اړونده پته ایښودل شوی

56.4.2 که د پوست له لارې لېږل شوی وي، د لېږلو تر نېټې وروسته پینځه (۵) کاري ورځې (یا که پوست له هېواده بهر ته وي) لس (۱۰) کاري ورځې؛ او یا

56.4.3 که د ایمېل له لارې لېږل شوی وي، د اتوماتیکي تاییدی له راتلو سره سم؛ که اتوماتیک ځواب رانهشي، له هغه وخت څخه دري ساعته وروسته چې ایمېل یا برېښنالیک د لېږونکي لخوا لېږل شوی و، او دا وخت د هغه وسیلې په حواله ټاکل کیږي چې برېښنالیک یې لیږلی و.

56.5 له دې سره سره، که خبرتیا یا برېښنالیک په غیر رسمي ورځ او یا د مازدیګر تر ۵:۰۰ بجو وروسته لېږل شوی وي، د لېږلو نېټه به یې د راتلونکې کاري ورځې پیل وبلل شي.

## 57 متفرقه حکمونه

**د تړون د لورو ترمنځ اړیکه**

57.1 ددغه تړون له مخې:

57.1.1 د طرفینو ترمنځ د شراکت او ګډې پانګونې (joint venture) هېڅ اړیکه نه شته ؛ یا

57.1.2 هېڅ لوري حق نه لري، چې د بل لوري په استازیتوب یو کار ترسره او یا کوم مسئولیت ومني.

لګښتونه

57.2 مګر دا چې په دې تړون یا د کانونو نافذه قانون کې بل ډول تصریح شوي وي، د تړون هر لوری مکلف دی چې ددې تړون او د تړون اړونده د نورو اسنادو د چمتو کولو، مذاکرې، اجرا یا رعایت په تړاو هر ډول لګښتونه او مصارف خپله ورکړي.

منظورۍ او رضایت

57.3 مګر دا چې په دې تړون یا نافذه قوانینو کې په صراحت سره بل ډول راغلي وي، امارت کولای شي او بشپړ اختیار لري چې د هغو شرایطو په پام کې نیولو سره چې خپله یې ټاکي، یو وړاندیز منظور یا یې رد کړي او یا یې له ورکولو ډډه وکړي. له شرایطو سره سم امارت مکلف نه دی چې د یو وړاندیز د منظورۍ یا رد په اړه دلایل وړاندې کړي.

د نورو اسنادو اجراء

57.4 دغه تړون هغه وخت په سمه توګه اجرا ګڼل کېږي، کله چې دواړه لورې دا سند او دې ته ورته نور اسناد اجرا کړي.

نور اقدامات

57.5 هر لوری مکلف دی چې په خپل شخصي لګښت ټول اسناد چمتو کړي او یا له مقابل لوري څخه د غوښتنې وړ چارو د اجرا لپاره دړېیم شخص وګوماري تر څو دغه تړون او دې ته ورته نوري معاملې په کټور او بشپړ ډول له نیمګړتیا لرلو پرته عملي شي

پر تړون حاکم قانون او قضایي واک

57.6 دا تړون د افغانستان د نافذه قوانینو پر اساس تنظیمیږي. له ۵۵ مادې سره سم، دواړه لوري به خپله قضیه د ځانګړې صلاحیت لرونکو محاکمو او د استیناف محکمو ته ارجاع کوي.

د تړون ژبه

57.7 دغه تړون پر پښتو او انګلیسي ژبو چمتو شوی او اجرا کېږي چې هر لوری به په دواړو ژبو د تړون یوه کاپي ترلاسه کوي. که چېرې په دواړو ژبو د چمتو شوي تړون د نسخو ترمنځ توپیر وي، پښتو نسخې ته ارجحیت ورکول کېږي.

د تفکیک قابلیت

57.8 د دغه تړون هر حکم په جلا توګه د تفکیک وړ دی. که چېرې د تړون یو حکم په یوه قضایي حوزه کې قانوني مبنی ونه لري، د تطبیق وړ نه وي یا هم بې اعتباره وي یا هم په راتلونکې کې دغه ډول څه کېږي نو:

57.8.1 یاد حکم باید په اړونده دعوا کې له دغه تړون څخه جلا په نظر کې ونیول شي، خو د تړون پر پاتې نورو حکمونو به اغېزه ونه لري؛ او

57.8.2 په یوه قضایي حوزه کې یو حکم قانونیت، انفاذ او عتبار زیانمن نه کړي.

معافیتونه

57.9 د دې تړون له مخې د یو حق، واک یا حل لارې په اړه معافیت باید د یو لوري له خوا بل لوري ته په لیکلي بڼه وي. دا معافیت به د کوم مکلفیت یا نقض د ضمني معافیت په معنی نه وي.

57.10 که یو لوری د یوه کار په کولو ونه توانېږي او یا یې په کولو کې ځنډ وکړي چې د دغه تړون له مخې یې د کولو حق لري، پر هغو د سترګو په پټولو په معنا نه دی.

**د غرامت دوام**

57.11 په دغه ترون کې هر غرامت د طرفينو يو دوامداره، جلا او له نورو مسئوليتونو څخه خپلواک مسئوليت دی او د ترون تر فسخې وروسته هم دوام کوي.

Islamic Emirate of Afghanistan
د کانونو او پټرولیم وزارت
وزارت معادن و پطرولیم
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM
ریاست دفتر مقام
14 00
C.A.D

[د دې پاڼې پاتې برخه عمداً خالي پرېښودل شوې ده.]

لومړی جدول: اکتشافي جواز

لومړی برخه: مقدم شرطونه

| | مقدم شرطونه | وروستی نېټه |
|---|---|---|
| .1 | تړون لرونکی باید د پروژې د اکتشاف په مرحله کې د لس میلیونه اووه لکه پنځه لس زره څلور سوه شل (10715420) امریکایي ډالر پانګونه وکړي | |
| .2 | تړون لرونکی باید د پروژې د بهره برداری او پروسس په برخه کې درې سوه میلیون (300,000,000) امریکایي ډالر پانګونه وکړي. | |
| .3 | وزارت حق لري چې دغه تړون فسخ کړي که چېرې تړون لرونکی له کوم معقول او موجه عذر پرته خپل کارونه د دوو (۲) میاشتو په موده په پرله پسي ډول وځنډوي. | |
| .4 | تړون لرونکی مکلف دی چې خپل اکتشافي فعالیتونه د نړیوالو معیارونو لکه CRIRSCO او داسې نورو معیارونو سره سم ترسره او پلي کړي. | |
| .5 | تړون لرونکی مکلف دی چې د پروژې اړوند اکتشافي، استخراجي او پروسس فعالیتونه د نړیوالو معیارونو مطابق په پنځه کلونو کې سرته ورسوي. | |

دویمه برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو نافذه قانون)

| | د جواز اضافي شرط |
|---|---|
| .1 | ۱. هغه اضافي شرطونه چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په راپور کې د کانونو نافذه قانون مطابق ځای پر ځای شوي دي (د لرغونو آثارو او فرهنګي عتیقه شیانو په اړه)، لکه څرنګه چې د وزارت له خوا د دغه تړون لرونکي ته په (الف) ۳۲،۳،۲،۲ جز کې ذکر شوي |

دریمه برخه: د جواز ساحه

| No | طول البلد | عرض البلد |
|---|---|---|
| 1 | 69° 53′ 49.878" E | 37° 36′ 15.789" N |
| 2 | 69° 53′ 40.091" E | 37° 36′ 5.610" N |
| 3 | 69° 53′ 17.734" E | 37° 35′ 48.156" N |
| 4 | 69° 53′ 5.176" E | 37° 35′ 41.842" N |
| 5 | 69° 52′ 48.133" E | 37° 35′ 30.755" N |
| 6 | 69° 52′ 27.001" E | 37° 35′ 14251" N |
| 7 | 69° 52′ 13.256" E | 37° 35′ 9.546" N |
| 8 | 69° 51′ 58.726" E | 37° 35′ 6.449" N |
| 9 | 69° 51′ 40.926" E | 37° 34′ 59.210" N |
| 10 | 69° 51′ 24.336" E | 37° 34′ 51.961" N |
| 11 | 69° 50′ 56.877" E | 37° 34′ 44.790" N |
| 12 | 69° 50′ 40.652" E | 37° 34′ 34.012" N |
| 13 | 69° 50′ 11.950" E | 37° 34′ 17.396" N |
| 14 | 69° 49′ 59.748 "E | 37° 34′ 12.194" N |
| 15 | 69° 49′ 36.399" E | 37° 34′ 48.565" N |
| 16 | 69° 49′ 44.200" E | 37° 35′ 14.023" N |
| 17 | 69° 49′ 55.044" E | 37° 35′ 31.782" N |
| 18 | 69° 50′ 28.309" E | 37° 36′ 2.103" N |
| 19 | 69° 53′ 42.702" E | 37° 36′ 34.313" N |
| Area=12.574 $km^2$ | | |

Islamic Emirate of Afghanistan

**دویم جدول: استخراجي جواز**

**لومړی برخه: د جواز اضافي شرطونه (د کانونو نافذه قانون)**

| | د جواز اضافي شرط |
|---|---|
| .1 | د کان کیندني د پروپوزل په اړه ټول هغه شرطونه چې داقتصادي کمېسیون له خوا د کان کیندني پر جواز لرونکي باندې د کانونو وزارت د نافذه قانون مطابق وضع کیږي. |
| .2 | هغه اضافي شرطونه چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په راپور کې د لرغونو آثارو او فرهنګي عتیقه شیانو په اړه وضع شوي دي، لکه څرنګه چې د وزارت له خوا د دغه تړون لرونکي ته په (الف) ۲,۲.۳,۲۲ جز کې ذکر شوي |

دریېم جدول: زېربنا او عامه کارونه

لومړی برخه: زېربنا

| | هغه زېربناوې چې باید د ترون لرونکی یې جوړه کړي |
|---|---|
| 1. | ترون لرونکی باید په افغانستان کې دننه د وروستي محصول تولید لپاره د سروزرو د پروسس بشپړه فابریکه جوړه او نصب کړي. |
| 2. | ترون لرونکی باید د دوی د پروژې مصرف لپاره د اړتیا وړ برېښنا او اوبو رسولو اسانتیاوې برابرې کړي. |
| 3. | ترون لرونکی باید د کان کیندنې فعالیتونو پورې اړوند ټول سرکونه جوړ کړي. |

دویمه برخه: عامه کارونه

| | هغه عامه کارونه چې ترون لرونکی یې باید وکړي |
|---|---|
| 1. | ترون لرونکی مکلف دی چې د وزارت د ۲۰۰ کارمندانو لپاره د ظرفیت جوړونې پروګرامونه وړاندې کړي |
| 2. | ترون لرونکی مکلف دی چې د افغانستان اسلامي امارت د شهیدانو د کورنیو لپاره مسلکي کورسونه برابر کړي |
| 3. | ترون لرونکی مکلف دی چې د مدرسې لپاره درسي مواد برابر کړي |
| 4. | ترون لرونکی مکلف دی چې د سیمې خلکو لپاره د پاکو اوبو څاه ګانې وکیندي. |
| 5. | ترون لرونکی مکلف دی چې د ښوونځیو او مدرسو لپاره څوکۍ، مېزونه او قرطاسیه برابر کړي |
| 6. | ترون لرونکی مکلف دی چې د محلي خلکو لپاره مسلکي کورسونه برابر کړي |
| 7. | ترون لرونکی مکلف دی چې کارګرانو د فامیلونو لپاره د تجوید او سواد آموزۍ کورسونه برابر کړي |
| 8. | ترون لرونکی مکلف دی چې د سیند لپاره استنادي دیوالونه جوړ کړي |
| 9. | ترون لرونکی مکلف دی د محلي خلکو لپاره کاري فرصتونه برابر کړي |

Islamic Emirate of Afghanistan 1400

C.A.D

| | |
|---|---|
| .10 | ترون لرونکی مکلف دی چی د محلي خلکو د ارتیا مطابق سرکونه جوړ کړي |
| .11 | ترون لرونکی مکلف دی د محلي تولیداتو لپاره مارکیت جوړ کړي |
| .12 | ترون لرونکی مکلف دی چی د پروژې د تولنیزو خدماتو په برخه کي ۱۰،۰۰۰،۰۰۰ (لس میلیون) امریکایي دالر مصرف کړي |

**ونده وال**

| گڼه | نوم | ونده |
|---|---|---|
| ۱ | Lao Lido Mining Company | ۵۵٪ |
| ۲ | China Afghanistan Dayunlong Zeren Mining and processing | ۴۵٪ |

**څلورم جدول: ځانگړي شرایط**

[د ترون ځانگړي شرایط چې دلته به ولیکل شي(که وي)

| | **ځانگړي شرایط** | **وروستی نېټه** |
|---|---|---|
| ۱ | شرکت به په افغانستان کي مکمل د سرو زرو پروسس کوي. | |
| ۲ | که چیرته شرکت په جعل، تذویر، غلا، او یا قاچاق گیر شي، نو یاد ترون به لغو وکنل شي. | |

**د اکتشاف تعهدات:**

ترون لرونکی مکلف دی چې د اکتشاف په مرحله کي به لاندي فعالیتونه (البته محدود نه دي) ترسره کوي. برسېره پردي، د امتیاز اخیستونکي باید د کان کیندني تول فعالیتونه له نړیوالو معیارونو سره سم ترسره کړي.

- د دفتر او ساحوي کار
- توپوگرافیک سروې
- جیو فزیک دیتا پروسس کول



Islamic Emirate of Afghanistan 1400 وزارت معادن و پترولیم ریاست دفتر مقام

C.A.D

- نقشي جوړول او د سطحي نمونو راټولول
- د خمکي په اساس جيو فزيک او مقناطيسي سروې
- خندق کيندل او د چينلي نمونو راټولول
- د برمه کارۍ پروګرام ډيزاين
- برمه کاري
- ارزونه او د ذخيرې اټکل
- د کاني توکو د ذخيري ماډل جوړول
- د امکان سنجی لومړني مطالعات
- د امکان سنجی نهايي مطالعات



Islamic Emirate of Afghanistan
14 00
C.A.D

اجراء:

**تړون ورکوونکی (امارت)**
د کانونو او پټرولیم وزارت

شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور
د وزارت سرپرست

**تړون لرونکی**
چینا افغانســــتان ده یون لونګ زیرن د سایرو معادنو د
استخراج او پروسس شرکت
د شرکت رییس

**لومړی شمېره ضمیمه: د استخراج منظور شوی پروګرام**
[ولیکئ]